# د زرو دوکان

د استاد عبدالحمید افغان له فیسبوک پاڼې څخه راخیستل شویو لیکنو ټولګه

لیکنه: استاد عبدالحمید افغان
راټولونه او ترتیب: اجمل هیوادمل

## لنډ وضاحت :

افغانستان کلونه کلونه په اور کې وکړیدلو تجربه شوي خبره ده
چې جنګ هر څه نابودوي همداسې یې وکړل زموږ ستر علمي
,مذهبي او ملي څلي ونړیدل هغه افغانستان چې یو وخت یې
په اسیا کې د عروج لمر څلا کوله اوس پردیو خیراتو ته ناست
دي یو وخت وه چې فاتحانه ایران ته داخلیدلو اما اوس په کتارونو
کې ایراني ویزو ته ولاړ دي عجیبه خلک یو ولاړ شو بیا ونړیږو یا
خدای(ج) راته غوصه ده او یا موږ ته د عقل کارول عار او پیغور
ښکاري هر ظلم ,جبراو ستم راباندي وشو هر ظالم خپله فارموله
وکاروله هر جابر خپله اسله وازمایله چې پناه مو کړي


مګر دا ملت پولادي ارادي او کلک عزم لري الله یو نادره ښیګڼه او
لورینه پرې کړې هغه د قلم په ګوتو کې ساتل دي د هر کس له
ګوتو چې قلم ولویږي بل یې حتما نیسي لویدلو ته یې نه
پریږدي یو ستوری که لویږي بل یې په ځای راخیژي دا خاوره چې
د سلهاوو قلموالو ارامګاه ده مګرخوشبخته ده چې اوس هم
پکې د سلهاوو قلموالو قدمونه دا خاوره ښکلوي یو له دغو درنو
هستیو نه چې دغه خاوره یې د لرلو ویاړ لري استاد حامد افغان
صیب ده تاسف سره چې افغان صیب مي له نږدي نده لیدلی په
خواله رسنیو یې تعقیبوم الله ورته ښه علم ور کړی هره لیکنه
یې بې شمیره ښیګڼې لري هر څوک ترې مستفید کیدلی شي
هره لیکنه یې له سرو زرو سره پیمانه کیدلی شي نو پدي
اساس مي وغوښتل هغه لیکني یې راټولي کړم چې په
فیسبوک یې نشروي او هغو خلکو ته یې د کتاب په بڼه ورسوم
چې تر اوسه ندي ترې برخمن شوي الله دادي کار حوصله او
توان راکړه چې یو شمیر لیکني مي راټولي کړې همدا خدمت
مي په وس پوره وه ورته اجرا مي کړ برګ سبز تحفه یی
درویشان •

په ګوتو دي برکت قلم دي روان!!!

اجمل هېوادمل

پکتیا مرکز ګردیز ابراهیم خیل





❖ بریالیتوبونه په سمو پرېکړو سره ترلاسه کیږي، سمې پرېکړې په مهارتونو سره کېدلی شي او مهارت له ناکامو تجربو زده کیږي! نو ناکامیو ته مه تم کیږه! ناکامي به مو ځنډوي، خو پاتې کوي مو نه.

◊◊◊◊◊◊◊◊

❖ د یوه شیعي او یهـ.ـودي نادره کیسه

ابن قدامة المقدسـي (وفاة:٦٤٣) رحمه الله لیکي: شیخ ابوبکر الحراني په کال: 597هـ کې کیسه راته کوله چې د دمشق، قاسیون غره کې د "الصالحین" کوڅې ته ورغلو ، هلته د علویانو (اهل تشیع) د یوه مشر کره مېلمانه شوو، هغه زموږ ډېر عزت او ښه مېلمه پالنه وکړه، د اهل تشیع د دې مشر یو یـ.ـهودی خادم و، چې ده ته ډېر نږدې و او ده خپل ډېر مسؤلیتونه ورته سپارلي و.

زموږ یوه ملګر هغه شیعه مشر ته وویل: مشره! ټولې چارې دې ښې او په زړه پورې روانې دي، الله د شرافت، سخاوت او غیرت صفتونه درکړي دي، خو دا یو کار دې خوندور نه دی، هغه دا چې یو یهـ.ـودی غلام دې دومره درنږدې کړی! دا کار مو سم نه بولم.

شیعه مشر ورته وویل: ستاسو خبره پر ځای ده، خو ما ډېر غلامان او مینځې اخیستي دي، مګر د دې یهـ.ـودي غلام په څېر امانتدار او اخلاصمن غلام مې تراوسه نه دی لیدلی، دی زما ټول کارونه په ډېر

اخلاص، صداقت  او امانتداري سره مخته وړي او زه يې له زياتو کارونو بېغمه کړی يم

مجلس کې يوه سړي ورته وويل: کله چې دومره ښه دی نو د اسلام منلو دعوت ولې نه ورکوې؟! شايد مسلمان شي، په دې سره شيعه مشر خپل غلام راوغوښت، هغه چې راغی ويې ويل: زه پوه شوم چې تاسو زه څه شي ته راغوښتی يم ... هغه ورته وويل: ستا بادار ته ښه پېژنې، د هغه سخاوت او فضيلت درته معلوم دی او دا هم چې هغه ستا سره مينه لري؟ غلام وويل: بلکل راته معلوم دی او زه هم مينه ورسره لرم، هغه ملګري ورته وويل: نو بيا ولې د دې.خپل مهربانه مشر دين (اسلام) نه منې؟!

غلام وويل: تاسو پوهيږئ چې زه يهـ.ـودی يم، عزير/موسی عليهما السلام محترم او عزتمن نبي بولم، که زه پوه شم چې زموږ يهـ.ـودو کې داسې خلک شته چې زموږ د پيغنبر مېرمن فاحشه او زانيه بولي، د هغې پر پلار لعنتونه وايي او د هغه ملګري ښکنځي؛ نو هيڅکله به زه د داسې يـ.ـهوديت پيروي ونه کړم، نو اوس که زه اسلام قبلوم د چا اسلام قبول کړم ... ؟

هغه ملګري ورته وويل: د خپل بادار شيعه مشر دين ومنه! غلام وويل: د ده اسلام زه نه منم! ځکه دی د خپل پيغمبر په مېرمن عائشه کې څه ډول خبرې کوي؟! دی د خپل پيغمبر درانه او خواږه ملګري: ابوبکر او عمر (رضي الله عنهما) څومره سپک

يادوي؟! او دا زما ضمير نه مني چې د محمد (ﷺ ) دين مې منلی يي، خو په مېرمن يې تهمتونه او تورونه لګوم او ملګري يې ښکنځم، تر دې خو زما خپل دين (يهـ.ـوديت) راته ښـه دی!

د يهـ.ـودي غلام له دې خبرو وروسـته شـيعه مشـر څه وخت چوپ او په چروت کې کېناسـت! وروسـته يې غلام ته وويل: لاس راکړه! هغه چې لاس ورکړ؛ ويې ويل: {أشـهد أن لا إله إلا الله وحده لا شـريك له وأن محمدا عبده ورسـوله} او زه پخپلو سـپکو کړنو توبه ګار يم! يهـ.ـودي غلام د خپل بادار لاس په لاس کې نيولی و او زياته يې کړه چې زه هم وايم : {أشـهد أن لا إله إلا الله وحده لا شـريك له وأن محمدا عبده ورسـوله}. او دا چې د اسـلام هر مخالف دين باطل دی.

ويل کيږي له دې وروسـته شـيعه مشـر پاک مسـلمان وګرځيد او غلام يې هم له يـ.ـهوديت بېزارۍ او رښـتينی مسـلمان شـو. النهي عن سـب الأصحاب، للمقدسـي (۱۱۳)

□□□□□□□□□

## ❖ "زه ټوله خير يم"

له جوماته خوشـاله ورغی، خپلي مېرمني ته يې موسـل او په ځير ځير کتل! هغې ورته کړه خيرت دی، ځنګه راته ګورې؟! ده ورته وويل: جومات کې ملا صاحب ويل: خپلي مېرمني ته په مينه کتل ثوابونه

لري! هغې ورته وويل: ما درته ويل چې "زه ټوله خير يم".

□□□□□□□□□□

❖ که د ټيټ سړي دې اوږد سيوری وليد؛ پوه شه چې لمر په ډوبيدا دی! هسپانوي #متل

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ الوفاء بأسماء النساء

{د لس زره #حديثپوهانو_مېرمنو کتاب}

دا د وخت نادر کتاب (الوفاء بأسماء النساء) نوميږي، په دې کتاب کې د هغو مېرمنو تراجم او ژوند ليکونه راغلي چې په ځانګړې توګه يې د حديثو علم کې زده کړې کړې دي، دا ستر کتاب په (43) ټوکه کې چاپ شوی! په دې کتاب کې د (10000) هغو مېرمنو تراجم او ژوندليکونه راخيستل شوي دي چې د نبوي حديثو په علومو کې يې زده کړې کړې دي.

دا کتاب عربي ژبه کې ليکل شوی او انګليسي ته هم ژباړل شوی دی، د کتاب ليکوال د هند وتلی عالم دکتور محمد أكرم الندوي دی، چې فعلا برتانيه اوسي، ليکني سره مله عکسونه د کتاب او د کتاب د ليکوال دي، نوموړي دکتور د دې کتاب په ليکلو له (15) کاله زيات وخت لګولی، د کتاب په اړه نسبةً تفصيلي معلومات په راتلونکو پوسټونو کې درکوم، تاسو ټول حضرات، نر اوښځې زموږ وال ځارئ، دلته به ډېر داسې څه زده کړئ چې سترګې به مو

خلاصې او ذهنونه به مو پراخه شي. بفضل الله تعالی ومنه. نور بیا

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ الوفاء بأسماء النساء (۲)

{د لس زره #حدیثپوهانومېرمنو کتاب}

په دې کتاب کې دکتور محمد اکرم الندوي د هغو مسلمانو مېرمنو د ژوند حالات راخیستي دي چې هغوی د اسلامي نړۍ مختلفو سیمو کې، د نبوت له زمانې رانیولې ترننه، د نبوي حدیثو په درس او تدریس بوختې پاتې شوې دي.

دا تراجم او ژوند لیکونه دکتور الندوي له مختلفو مأخذونو راټول کړي دي، لکه د اسماء الرجال، له کتابونو، د استادانو ژوند لیکونو، د مشایخو او په دې اړه له نور ګڼ شمېر کتابونو نه، چې هغو کې چاپ او ناچاپ زیات کتابونه راځي، داراز له نورو کتابونو او د خلکو له سینو نه مختلف معلومات راجمعه کړي دي. ښاغلي ندوي دا معلومات د دمشق، ترکیې، مصر، برتانیه، المان، هند، المغرب او د نړۍ له نورو کتابخانو، راجمعه کړي دی

د دې کتاب مقدمة او سریزه مستقل او ځانګړی ټوک دی، چې د کتاب د معلوماتو په اړه دقیقه څېړنه په کې شوې ده، د اسلامي تاریخ اوږدو کې د مېرمنو په ځلانده علمي رول تفصیلي معلومات او لاسته راوړنې رایوځای کړي دي، د کتاب دا سریزه دیارلس کاله پخوا په انګلیسي ژبه ( :AL-MUHADDITHATM

the women (scholars in islam، په نامه ژباړل شوې او خپره شوې ده او د لوستوالو منځ کې يې زيات مقبوليت پيدا کړی.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ پاچا سوی ته لينده کش کړه، خو ونه لګيدا! او سوی لا تېز شو، يوه #چاپلوس ووېل : سبحان الله ! مړ، سوی دومره ټوپونه وهي ..

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ د ژوند غوره صحنه

نړيوال چوپ خولی ټوکمار، چارلي چاپلين ( Charles Chaplin) وايي : پلار سره مې د يوه فلم ټيکټ پېرلو ته ولاړ وم، زموږ نه مخکې د يوې غريبې کورنۍ غړي ولاړ وو، د هغوی له جامو نه يې غريبي ښکاريدله، خو ماشومان يې ټول ډېر خوشاله وو، د فلم په اړه يې خوږ مجلس نښلولی وو او ټولو په مينه مينه سره خندل، پلار يې چې د ټيکټ اخيستلو کړکۍ ته ورنږدې شو، ورو ښرته راشاته شو، مېرمنې سره ورو وغږيدی، څه وخت دی او مېرمن يې دواړه خپه ودريدل.

زما پلار له جيب نه شل ډالر راوايستل، د هغه سړي شاته يې وغورځول، د سړي پر اوږه يې لاس کېښود او ورته کړه يې: دا شل ډالره ستانه ولويدل، سړي ورواخيستل، سترګې يې اوښلنې شوې او زما له پلاره يې مننه وکړه. هغوی چې ننوتل پلار مې زه له

لاسـه ونيولم، له كتاره راووتلو او بېرته كور ته روان شـوو. څكه پلار مې يوازې هماغه شـل ډالر لرل!

چارلي چابلين وايي: له هغې ورځې ترننه مې پخپل پلار وياړم، دا مې د ژوند تر ټولو غوره صحنه وه چې ليدلې مې ده، ان له هغه فلمه هم غوره وه چې ومې نه ليد.

❖ يوه #چاپلوس نادر وصيت ليکلی:

قبر کې مې ولاړ دفن کړئ؛ ټول ژوند مې په رکوع تېر کړی!

❖ صحابي: يه د الله نبي ﷺ ! زړه مې ډېر سخت دی

نبي ﷺ: د يتيم پر سر لاس تېروه او مسکين ته ډوډۍ ورکوه. مسند أحمد

❖ يوه سړي عمر بن الخطاب رضي الله عنه ته وويل: فلان رښتينی سړی دی، عمر ورته وويل: سفر دې ورسره کړی؟ هغه ول نه، عمر ورته وويل: کله دې شخړه ورسره راغلې ده؟ هغه ول نه، عمر ورته وويل: کله دې کوم شی امانت ورته اېښی؟ هغه ول نه، عمر ورته وويل: نو ته هغه نه پېژنې، فکر کوم جومات کې دې ليدلی،

چې سر یې ښکته پورته کوه. عیون الأخبار لابن قتیبة

□□□□□□□□□□

❖ ایوب علیه السلام ته چا وویل: د الهي ازمویني پر مهال څه شی ډېر درته سخت و؟ هغه وفرمایل: زما پر حال د دښمنانو خوشالی. عیون الأخبار 117/3

ربه! د دښمن له خندا مو وساته.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ ورکړه د لاس نه، د زړه کار ده!

افریقایي #متل

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ سپین وېښتان د عمر زیاتیدا ښنه ده، نه د عقل زیاتیدا. یوناني #متل

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ د یوه مین خو جملې

صحابه کرامو رضي الله عنهم له رسول الله ﷺ سره زیاته مینه لرله، د دې مینې ډېرې بېلګې لرو، زما د حدیثو ناچاپ اثر کې مې په دې اړه ځانګړې برخه (باب) راخیستې ده، دلته په ځانګړې توګه د حدیثو د مشهور راوي ابو هریرة رضي الله عنه ځانګړې اسلوب ته تم کیږو، د هغه مختلفو روایاتو کې د ده دا ځانګړې جملې د هغه د فوارې او څپڅپانده مینې

غمازي کوي، هر مومن خوند ورنه اخلي او له رسول الله ﷺ سره د هر مومن مينه تحريکوي او ښوروي.

هغه له ميني ډکې جملې په عربي کې هم خوږې لګيږي او پښتو کې هم پستې او د زړه ژورې لمس کوي، نو دلته يې عربي متن له پښتو ژباړې سره ستاسو مخته ږدم:

✓ أوصاني خليلي (دوست مې وصيت راته کړی)

✓ صدق خليلي (دوست مې رښتيا ويلي)

✓ حدثني خليلي الصادق رسول الله ﷺ (رښتيني دوست مې، رسول الله ﷺ، حديث راته بيانوه)

✓ حدثني أبو القاسم نبي التوبة ﷺ (د توبې نبي ﷺ، ابوالقاسم حديث راته بيانوه)

✓ إني سمعتُ حِبي أبا القاسم ﷺ (زما له حبيب او ګران ابوالقاسم ﷺ، نه مې اوريدلي)

✓ حدثني حبي أبو القاسم، الصادق المصدوق ﷺ ( زما حبيب او ګران، رښتيني او رښتينی بلل شوي ابو القاسم، حديث راته بيانوه)

دا جملې اکثره د ابو داود په السنن کې راغلې دي، داراز صحيح مسلم، مسند أحمد، الدار القطني، البيهقي او د ابو عوانة په المستخرج کې هم راغلې دي.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ "بېکاره"

که مېرمن هوټل یا کومه مؤسسه کې ډوډۍ پخوي "نانوایه" یې بولي، خو چې خپل کور ډوډۍ پخوي؛ "بېکاره" یې يادوي!

چې د نورو ماشومان روزي "ماشوم روزونکې" یې بولي، خو چې خپل اولاد روزي او ساتي؛ "بېکاره" یې بولي!

که د مؤسساتو دفترونه پاکوي بیا هم یو نوم ورته ږدي، خو چې خپل کور صفا کوي؛ "بېکاره" یې بولي!

چې د نورو اولادونو ته زده کړه ورکوي "ښوونکې" یې بولي، خو چې خپل اولاد ته زده کړه ورکوي "بېکاره" یې بولي!

غربي نظام، پر کور د مېرمنو کار ته ارزښت نه ورکوي، کور کې د مېرمنو هر ډول مهم او ګټور کار "نه کار" بولي، دوی غربۍ ښځه په دې قانع کړې ده چې په کور دننه کار یې هیڅ ارزښت نه لري، که مېرمن خپل حیثیت ثابتول او د نورو توجه ځان ته اړول غواړي؛ د کور له حدودو دې بهر ووځي.

د غرب دا ظاهره او پېښنه اوس پخپله د غرب #هوښیاران د یوې ستونزې په توګه ترغور لاندې نیسي. البته په دې لړ کې ځینې استثنائات شته چې اسلام حل ورته لري، خو موږ د ژوند په عملي ډګر کې دې استثنائاتو ته د حل پیدا کولو پر ځای همدا کیسه تکراروو چې "اسلام حل ورته لري".

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ په یوه داسې کار نورو ته غوسه کیږو چې هغه پخپله هم کوو!

څه #مور یو!

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ پر #مجرد بمبار

عرب له کوژدن مخکې په شرعي طریقه د نجلۍ لیدني (النظرة الشرعية) ته ورځي او دا شرعي طریقه هم ده، یو عرب #مجرد لیکي: زه مې له مور سره ولاړم چې یوه نجلۍ ووینو، هلته چې ورغلو، مېلمستون کې کېنستلو، د نجلۍ مور و پلار راسره ناست وو، څه وخت وروسته مخ پټې نجلۍ راغله، لیږ څنډ کېنستله، بې له مخ لوځولو پاځیدله او ولاړه! لیږ وروسته مې مور اشاره راته وکړه چې ځو، زه نه تلم، خو د مور په ټینګار ولاړ شوم، بهر مې مور ته په قهرژنه لهجه وویل مال مورې دا نو څه لیدنه وه، هغې مخ هم لوڅ نه کړ او په منډه ووتله؟!! مور مې ورو غوندې راته وویل: زویه هغې ماته ویلي و چې زوی مې دې خوښ نه شي زه مخ نه لوڅوم... مجرد خوارکی وایي: اتې له مور سره خاموش او نری غوندې راروان شوم.

□□□□□□□□□□□□

❖ پلار که اولاد ته ظالمانه او ناحقه ښېرا وکړي؛ ګناهګاریږي او دا د اولاد لپاره د هغوی د ګناهونو کفاره ګرځي او که صبر پرې وکړي الله تعالی به

اجر ورکوي. مجموع الفتاوى لابن تيمية(31
/303)

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ هغه تازه له زندانه راوتلی و او د ځان لپاره د چا
لور کوژده کولو ته ورغی، د نجلۍ کورنۍ ورته
وویل: زموږ کورنۍ ټول دینداره خلک یو، له زندان
راوتلي ته خپله خور و لور نه ورکوو، ده ورته
وویل: یوسف علیه السلام هم له زندانه راوتلی
و، نه د اقتصاد له پوهنځي؟! راوي زیاتوي او خو
د نجلۍ ورونه له خندا تپک ورته وغځیدل، اخیر
یې ورونیو، د کور څنګ ته کوهي ته یې
وغورځوه او ورغږ یې کړ : انتظار کوه، کومه
قافله درته راځي، هغوی به دې راوکاږي.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ که له بستر سره دې ډېره مینه نه وی او د
کوټې چت کې دې ډېر چروتونه هم نه وهلی؛ د
نړۍ ستر بریالی سړی به وې.

□□□□□□□□□□

❖ امام احمد بن ابي غالب الحربي (وفاة: 555هـ)
رحمه الله ته یو سړی ورغی، ورته ویې ویل:
امیر ته راسره ولاړ شه، هغه ته زما باره کې
ووایه چې زما اړتیا راپوره کړي، امام الحربي
ورته وویل: راځه چې دواړه دوه دوه رکعته لمونځ
وکړو او الله ته سوال وکړو، زویه! زه داسې نه
کوم چې خلاصه دروازه (د الله دروازه) پریږدم او

بندي دروازې (د امير دروازې) ته روان شم. ذيل طبقات الحنابلة (٢/٤٩)

پايله: د خپلو ستونزو د حل لپاره لومړی خپل ټول وس او توان په کار واچوئ، ورسره په اخلاص او عاجزي د خلاصو دروازو څښتن، الله تعالی ته زارۍ کوئ چې يا الله، اړتياوې مو راپوره کړه او له تا پرته مو بل چا ته مه محتاجوه، يعني تر خپله وسه د واکمنو دروازو ته مه ورځئ، مګر که بله لاره او چاره نه وه.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ يو ترکی ليکي: تاسو به يې منئ يا نه، خو زه 100% رښتيا وايم، کله چې د زلزلې په لومړيو سختو جټکو راغورځار شوم، د تېښتې لورى هم نه و، له کړکۍ نه بهر مې چې وکتل ټول ګاونډيان مو راويښ شوي وو، ما په ټولو نارې کړې، مال الله يادوئ، نورې لارې بندي دي، په الله قسم کوم تر ټولو لومړی مې ما زما د هغه ګاونډي له خولې د " الله اکبر" نارې واوريدلې چې هغه په ښکاره ملحد و!!

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ د صحابه کرامو د لوی شتمن او جنتي صحابي عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه د سخا په اړه وتلی تابعي ابن شهاب الزهري رحمه الله وايي : د مدينې منورې خلک ده ساتل! د مدينې يوې دريمې خلکو ته يې قرضونه ورکړي

و، د دويمي دريمي يې پورونه پرې کړي و، بلي دريمي سره يې خپلوي پاللـه. او امام الزهري د هغه د تواضع او عاجزي په اړه وايي: هغه به د خپلو غلامانو منځ کې نه پېژندل کيدى!

طبقات ابن سعد (124/2)

البداية والنهاية (179/7)

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ بې تبصيرې

يو پنجابی ليکي: مشرف دا ډېره موده دوبۍ کې د مرګ په انتظار پروت و، دا مهال هغه سره د خپلي کورنۍ يو فرد هم نه و! مېرمني به يې روغتون ته لګښت ورليږه نوره کراچۍ کې پر خپل کور ناسته وه، زامن يې هم خپلو کورونو کې اوسيدل، وروستيو شپو کې دوه متقاعد پوځيان او يو د هغه سپی "پاشا" ورسره و! خو د ساختلو پر مهال يوازې د هغه سپی "پاشا" ورسره پاتې و.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ زلزله کې د يوه شامي ټوله کورنۍ ختمه شوه، نو هغه وليکل: هغوی ټول ارام شول، مګر زه نه..

◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ ناشکره سره بنسپګڼه؛ لکه بحر کې عطر شيندل! پولنډي #متل

◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ يوه خپلي مور ته موبايل کې وويل: مورې دوه لونه مې وزپړيدلې، پر يوه ستا نوم ږدم او پر بله مې د خواښې نوم ږدم، مور يې ورته وويل: زويه! لېږ صبر وکړه، زه په منډه درځم او هغه زما د نوم واله په کې خوښوم...

◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ له پاچهي غوره ژوند

د عباسي خليفه المتوکل نږدې ملګرى او وزير الفتح بن خاقان وايي: يوه ورځ متوکل ته ورغلم، هغه سر ښکته ځړولى او په چروت کې تللى و، ورته ومې ويل: د مومنانو اميره! ولې چروتونو کې ډوب يې؟! په الله قسم، که د ځمکي پر مخ نه ستا نه د چا ښه ژوند يي او نه به د چا دومره نعمتونه يي.

متوکل راته وويل: کوم سړى چې پراخ کور لري، نېکه مېرمن لري، تياره روزي ورته راځي، موږ نه پېژني چې ضرر ورته ورسوو او نه موږ ته اړتيا لري چې سپک يې کړو؛ د دې سړي ژوند زما نه ډېر غوره دى! البداية والنهاية(١٤/٤٥٤).

يعني :

✓ پراخه کور لرل

✓ نېکه مېرمن لرل

✓ د ضرورت روزي لرل

✓ واکمن نه پېژندل

✓ واکمنو ته اړتیا نه لرل؛
له پاچهي غوره ژوند دی
◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ مرحوم ملا نصر الدین وایي: ماشومتوب کې به هم کله ریشخند راشکه وسو، یو وخت مې په یوه ماشوم مړه مرغۍ خرخه کړه! مال دا ویده ده، مازدیګر راویښیږي.

□□□□□□□□□□

❖ خلوربول ملګری

زرین اکا کیسه کوله، ول زموږ له یوه کم عقل کلیوال نظرګل نه سخت تنګ شوم، چې چرته به تلم دی به راپورې نښتی و، یوه ورځ د ده له لاسه د سهار خړه کې له شپانه سره ووتلم، ټوله ورځ مې د غرو له ښایسته لمنو، شنو ورشوګانو، د مېږو له شور و زوږ او د شپانه له پُوخو خوندونه واخیستل، خو د رمې ښنډه کې به مې چې د شپانه خلوربول ملګری ... ولید نظرګل به رایاد شو...

□□□□□□□□□

❖ کابو 14 سوه کاله پخوا، وتلی تابعي معاویة بن قرَّة (وفاة: 113هـ) رحمه الله وایي : د نن زمانې له خلکو د خیر او ښو تمه مه لرئ، بلکې چې خوک شر درته ونه رسوي، په دې خوشاله اوسئ، دې زمانه کې چې خوک شر نه درته

رسوي؛ هغه داسې وشمېرئ لکه ډالۍ چې درکوي. تاريخ دمشق (٥٩/ ٢٧٠)

◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ د سلفو د واده بېلګه

استاد: ځو ورځې نه وې؟!

شاګرد: مېرمن مې وفات شوې وه!

استاد: بله به کوې؟

شاګرد: هو، خو فعلا ډېر بې وسه يم

استاد: زما لور مې درکړله

ماښام شاګرد ته چا دروازه وروټکوله، چې ورووت استاد يې ولاړ و، لور يې هم ورسره وه! شاګرد ته يې کړه دا هماغه زما لور ده، چې نن مې تا ته نکاح کړه! استاد ولاړ او لور يې ورپرېښودله!

دا استاد د وخت وتلی امام او لوی تابعي سعيد بن المسيب نوميدی، رحمه الله تعالی، لور يې هم ستره عالمه او د وخت نامتو پېغله وه، دومره چې ستر اموي خليفه عبد الملک بن مروان څو ځله د خپل زوی وليد لپاره ورنه غوښتې وه خو ده نه ورکوله. دا هم د سلفو رحمهم الله د واده يوه بېلګه!

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ د سفيان الثوري رحمه الله مجلس ته يو ځوان عالم ورغی، د مجلس بر سر کې کېناست، په هسکه غاړه، کبرژن غوندې غږيدی، له مشرانو

علماؤ يې غټه ويله، نو سفيان ورته غوسه شو او ورته ويې ويل: سلف داسې نه وو، يوه هم د امامت دعوه نه کوله، دېرش کاله به يې چې د علم په زده کړه کې تېر کړل؛ بيا به د مجلس بر سر کې کېناستل او ته ستا نه په مشرانو تکبر کوې؟! ولاړېيره! بيا چې زما مجلس ته رانږدې نه شې. المدخل إلى السنن للبيهقي ١٧٧٦

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ يوه ليکلي و، کوچنۍ ورېرې مې د مصر د اهراماتو انځورونه کتل، وروسته يې راته وويل چې کله جنت ته ولاړه شم، فرعون نه به پوښتنه کوم چې دا يې څنګه جوړ کړي دي، ما ورته وويل: فرعون به جنت کې نه يي، هغه خو به جهنم کې يي، ورېرې مې راته وويل: ښه بيا ته پوښتنه ورنه وکړه.

□□□□□□□□□

❖ خوک چې دروغژن شي؛ ګواکې ايکسپاير او له کاره ولوېد!

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ هوښيار چې خطا شي؛ تاسف کوي او #احمق چې خطا شي؛ فلسفه شرو کړي!

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ د عثماني سلطان سليم اول ګټوره کيسه

عثماني خليفه سلطان سليم اول ته معلومات ورسيدل چې استنبول کې د ارمنيانو، روميانو او يهودو نامسلمان اقليتونه له مختلفو لارو هڅې کوي عثماني دولت ته مشکلات او ستونزې جوړې کړي، نو سلطان سخت غوسه او يادو اقليتونو ته په قهر شو، دستې يې فرمان صادر کړ چې ياد اقليتونه بايد سمدستې اسلام ومني او کوم يې چې اسلام ونه مني د هغو سرونه دې ووهل شي.

دا خبره د خلافت شيخ الاسلام علي افندي (زمبيلي علي مالي أفندي) رحمه الله ته ورسيدله، هغه د وخت ستر عالم و، په دې خبره ډېر زيات خپه شو، ځکه اهل ذمه او اسلامي هيواد کې مېشت کافران، بايد په زور اسلام منلو ته مجبور نه کړل شي، دا کار د اسلامي اصول سراسر خلاف دی، په چا باندې په زور اسلام منل قران کريم منعه کړي دي { لا إكراه في الدين }. هيڅوک بايد د دې قاعدې مخالفت ونه کړي، ان که د وخت سلطان او پاچا وي هم.

خو د سلطان سليم اول مخ کې چا څه ويلی شوی؟! د هغه پر وړاندې هيچا خوله نه شوی چوله کولی، نو دا به چا ورته ويلي و چې دا کار ناروا دی او دا د اسلام د اصولو خلاف کار دی، البته دا شونې وه چې د وخت شيخ الاسلام هغه سره خبره وکړي، ځکه عثماني دولت کې د "شيخ الاسلام" مقام ډېر لوړ و او د وخت هر سلطان به يې زيات احترام کوه،

نو شیخ السلام د سلطان د دې ناروا پر خلاف څه
ویلی شوی.

شیخ الاسلام علي افندي خپله چپنه واغوستله او د سلطان د قصر پر لور روان شو، د سلطان مجلس کې یې هغه ته وویل : خبر راته رسیدلی چې نامسلمان اقلیتونه پر اسلام منلو مجبوروئ؟! سلطان ورته وویل: همداسې ده، په دې کې څه مشکل ده؟ شیخ الاسلام په ډاډ لهجه او متانت سره ورته وویل: دا کار شریعت کې ناروا دی، قران له دې کاره منعه کړې ده، ستاسو نیکه (محمد الفاتح) هم د استنبول نیولو پر مهال هیڅوک اسلام منلو ته نه و اړ کړي، نو ته باید د اسلام احکام ومنې او د خپل نیکه لاره هم ونیسې.

سلطان سلیم تېز واکمن و، د شیخ الاسلام خبري خوند ورنه کړ، غوسه شو، ورته ویې ویل: اې علي افندي! د دولت چارو کې ستا مداخله ورځ تربلې زیاتیږي! له دې کاره به کله لاس اخلې؟!! شیخ افندي ورته وویل: اې سلطانه! پر ښو امر او له بدو منعه زما وجیبه ده، دا به زه خامخا ترسره کوم، زه باور لرم چې ماته به په ټاکلي وخت مرګ راځي، بناء په دې لاره کې له هیچا ډار نه لرم.

سلطان سلیم اول پر خپل دریځ ولاړ و، شیخ افندي ته یې وویل: اې شیخ الاسلام! دا کارونه ماته پرېږده، ده ورته وویل: داسې نه ده، زه ستا د اخرت غم هم کوم، د اسلام اصول پرېښودل مو اخرت ته تاوان ده، شیخ افندي جدي شو او ورسره غوسه

هم شو، نو زياته يې کړه: ګوره سلطانه! که زما خبره ونه منې بيا زه بله لاره غوره کوم!!

سلطان په هېښتيا وپوښتی، له بلې لارې مو مطلب څه دی؟! شيخ افندي ورته وويل: سلطانه! بيا ستا د عزل کولو فتوی صادروم!! ځکه ته د اسلام د ستر امر مخالفت کوې او په دې صورت کې زه ستا د عزل کولو فتوی صادرولی شم ... سلطان سليم پوه شو چې خبره ناسم لور ته روانيږي، ټولو عثماني خليفه ګانو علماؤ ته زيات احترام لاره، نو د شيخ افندي خبره يې ومنله او له خپلې پرېکړې تېر شو. او نامسلمان اقليتونه خپلو عقايدو کې ازاد پرېښودل شول. روائع من التاريخ العثماني لأورخان محمد علي

□□□□□□□□

❖ د عرب کوچي له يوه پرېړ او پياوړي ګاونډي سره جنجال تر محکمې ورسيد، هلته قاضي ورته وويل: تا نه دې اوريدلي چې رسول الله ﷺ ګاونډي سره د ښه چلند باره کې څومره ټينګار کړی دی؟! کوچي ورته وويل: د رسول مبارک ګاونډيان خو د علي، جابر او سلمان الفارسي (رضي الله عنهم) په رقم خلک وو، نه د دې کچر په څېر ...

راوي زياتوي قاضي صاحب له ډېرې خندا له چوکۍ ښکته ولويد

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

معجزه جمله!

یوه سیالۍ کې له 200 زیاتو کسانو برخه واخیستله،
سیالۍ کې له ګډونوالو غوښتنه شوې وه چې یوه
لنډه جمله کې دا لاندې معناګانې ځای کړئ:

ارامي

چوپتیا

امنیت

راحت

نېکمرغي

ډاډ

خوښي

سوکالي

ګډونوالو مختلف ډوله جملې ولیکلې، خو دې ټولو
کې د یوه کس جملې سیالۍ وګټله، هغه ان اوله،
دویمه دریمه او افتخاري ټولې ډالۍ وګټلې! بلکې د
راتلونکي کال کیدونکو سیالیو کې هم دی ګټونکی
اعلان شو!! اخیر دې ظالم څه معجزه جمله لیکلې
وه چې دومره ډالۍ یې وګټلې؟! هغه لیکلي و
«مېرمن مې ویده ده»

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ د ترکيې شوروم نومي ښار کې د "غريب دادا" په نوم مشهور زيارت و، کابو 100 کاله به خلک د تبرک لپاره ورتلل، خو کله چې د لاري ازادولو لپاره د سيمي ښاروالۍ د زيارت بېځايه کول وغوښتل او قبر يې وپلټه، تابوت مکمل تش پروت و! اتې ټول خلک وازې خولې پاتې شول!! يوه په کې وويل شکر چې تش دی او د بل شي هډوکي په کې نسته ...

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ ابو عثمان الزاهد (وفاة: 298هـ)، د خراسان دومره ستر ولي و، لکه د بغداد جنيد! الله دې ټول وبښي، دی يوه ورځ د وعظ لپاره کېناست، نو د ډېر وخت لپاره چوپ پاتې شو، وروسته يې دا بند وويلې:

وغيرُ تقيٍّ يأمرُ الناسَ بالتُّقى

طبيبٌ يُداوِي والطبيبُ مريض

او بې تقوی سړی خلکو ته پر تقوی امر کوي، طبيب خلکو ته درمل ورکوي، خو طبيب پخپله ناروغ دی... او په دې سره ورته ناست خلک ټول په ژړا شول... تفسير ابن کثير

دا بند د ځان باره کې هم 100% رښتيتی راته ښکاري ... موږ په ګناهونو لړلي او د خطاګانو ګوډي؛ هره ورځ خلکو ته نصيحتونه کوو، خو خپله ...

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

## ❖ نادرکه مخلوق

مشهور ترک ژورنالیست حمزة تکین لیکي: د ترکیې او سوریې د ورانوونکې زلزلې پوره شپږ ورځې ووتلې خو دا لاندې مخلوقات پوره نادرکه دي، نه ښه وايي نه بد، هغه څه کول خو پرېږده. دا مخلوقات لکه :

- د بشر د حقوقو نړیواله اداره

- د ښځو د حقوقو ډلې

- د حیواناتو د حقوقو ډلې

- د انسانانو د حقوقو ډلې

- د همجنسبازانو ډلې

- د تمدن او بیا رغوني ډلې

- د امنیت شورى

- د دیموکراسي پلویان

داراز د نړۍ نورې ډلې او ډلې چې مختلفو حالاتو او پېښو کې یې شور و زوږ جوړ کړی یي، ان که چرته کومه ګیدړه چرته ونه یا غنه کې نښتې یي؛ باقاعده هیلیکوپترې ورپسې والوځوي خو د سوریې او ترکیې د خطراکې زلزلې له امله رامنځته شویو بدو حالاتو په اړه دا پوره اونۍ چوپ پاتې دي!!

□□□□□□□□□□

## ❖ تخیلي ټوکه

کیسه_کا چرته یوه مېرمن وفات شوه، نو د خپل مېړه خواته یې دفن کړه، راوي وایي : څنګه یې چې د هغه خواته کېښودله دستې یې ورته وویل: څنګه خاموش غځېدلی یې، اوس که د خپلو ملګرو خواته دفن وی، د هدیرې هغه بل سر ته به دې د خندا کړسهار رسیدی ...

□□□□□□□□□

❖ چاپلوس پټ دښمن دی!

#ژباړه

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ هېرجنه ښوونکې

یوه ښوونکې وایي: درسونه چې خلاص شول، جیب او بټوه کې مې د موټر کیلي وکتله نه وه، په بیړه د ښوونکو کوټې ته ورغلم؛ هلته مې هم پیدا نه کړه، ناڅاپه رایاد شو چې شاید موټر کې رانه پاتې شوې یي، خاوند مې څو ځله راته ویلي و چې ګوره موټر کې کیلي پرېښودل خطرناک کار دی، ځکه موټر تښتوونکو ته د موټر دروازې خلاصول اسانه یي

نو ډارنده او په منډه د موټرو پارک ته روانه شوم، چې ومې کتل پارک تش ولاړ و، نور موټرونه تللي وو او زما موټر هم نه و! موبایل مې راواخیست، دستې مې پولیسو ته زنګ تېر کړ، هغوی ته مې خپل نوم د موټر ځانګړنې او نور لازم معلومات ورکړل او دا چې موټر

مې غلا شوی،  دا مې هم ورته وویل مال کیلي هم موټر کې رانه پاتې شوې وه.

ښوونکې زیاتوي: حیرانه دریانه پارک کې ولاړه وم، مېره ته مې موبایل وکړ، هغه ته په اساني د "ګرانه" توری نه کاروم ... مګر د سختې اړتیا حالت کې یې کله کله ګران وبولم، دلته مې په نیولې ژبه ورته وویل: ګرانه! موټر کې کیلي رانه هېره شوې وه، لکه چې موټر غلو بیولی ...

د هغه ځواب لیږ وځنډېد، ماسکه ویل موبایل قطعه شو، خو هغه په قهرمانه شکل راغبرګه کړه: وه ساده ښځې! ته سهار ما ښوونځي ته ونه رسولې ؟! خجالت څه خاموشه کړم، بیا مې په عاجزانه لهجه ورته وویل مال لطفا که اوس راشې او کور ته مې دورسوې ...

دا ځل مې مېره ښه په قهرژنه لهجه پرې رابړچ وهل، ول لیږ صبر وکړه، دویم ځل چې دې ګلان کرلي هغو کې نښتی یم، یعني تا ته دروان وم، خو پولیسو نیولی یم، راته وایي دا موټر د یوې مېرمنې دی، غلو ورنه تښتولی، اوس کوښښ کوم پولیسو ته قناعت ورکړم چې له نېکه مرغه زه غل نه یم، بلکې زه د هغې مېرمنې خاوند یم...

یادونه: د ژوند ګاډی- نر اوښځه په غبرګو مخته ولي، ژوند د دوی دواړو ګډه بوختیا ده، نو طبعا دلته د دوی دواړو تر منځ لوړې ژورې رامنځته کیږي، زه مې د ټوکو تعبیر او لیکنیز اسلوب کې خامخا داسې نغوتې کاروم چې دواړو ته ګټه لري، او الله مې ویني موخه

مې يوازې او يوازې اصلاح ده، نو ځينې ساده ګلان دې زما له دا رقم ټوکو زما شخصي ژوند نه معلوموي او نه دې ځينې نورې ساده ګلانې دا ګومان کوي چې خدای مه کړه زه به مېرمنو سره دښمني لرم. لا سمح الله.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ د سود يو درهم

رسول الله ﷺ فرمايي: د سود يو درهم چې سړي وخوري او هغه پوهيږي چې دا د سود ده؛ (د دې يوه درهم ګناه) له شپږ دېرش ځله زنا کولو ډېره سخته ده. عَنْ عبداللَّهِ بْنِ حَنْظَلَةَ غِسِّيلِ الْمَلَائِكَةِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: دِرْهَمُ رِبًا يَأْكُلُهُ الرَّجُلُ وَهُوَ يَعْلَمُ أَشَدُّ مِنْ سِتٍّ وَثَلَاثِينَ زَنْيَةً. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالطَّبَرَانِيُّ فِيْ الْكَبِيْرِ

ملا علي القاري رحمه الله د دې جملې (وَهُوَ يَعْلَمُ) په تشريح کې ليکي: البته چا چې د علم په زده کړه کې کوتاهي کړې يي؛ د هغه ناپوهي د اعتبار وړ نه ده، ځکه د فرضي علم پرېښودونکي جهل معتبر نه دی، بلکې دی هم د عالم غوندې ګناهګار دی.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ زرينې کرښې

ربښتينی ځواک دا دی چې:

✓ د باطل دملګرتيا وس لرې خو بيا هم پر حق ولاړ يې

✓ د ظلم وس هم لرې، خو بیا هم پر عدل ولاړ يې

✓ د بدو اودغچ وس لرې خو بیا هم ښښنه او ښېګڼه کوې

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ پر شاګرد بمبار

هغه شاګرد چې ځان هوښیار ورته ښکاريدی، استاد ته يې د ټوکي په نیت وويل: استاده! خلک، کورونه جوړوونکو مستريانو، رنګمالانو او بنایانو ته هم استادان وايي او د ښوونځي مدرسینو ته هم استادان وايي! نو د دوی تر منځ څه توپير دی؟!
استاد ورته وويل: تر منځ يې هیڅ توپير نسته، ټول له ديوالونو سره اخته دي!

راوي زياتوي هلته د مکتب خادم ناست و، شین چای يې سوروه، د خندا پټولو هڅه يې رسوا شوه او پوره غوړپ يې له سپوږمو وپاشه.

□□□□□□□□□□

❖ او راځئ داخل نړی ته وښیو چې موږ سیاست، د ملت جوړوني او هیواد رغوني کارونه هم کولی شو.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ حجاج بن یوسف ته يو سړی ورغی، چې ورسره ووينې، خو پيره دار يې ورته وويل: حجاج مړ شو! سړی ولاړ، لیږ وروسته بیا ورغی، چې حجاج سره ووينې، خو پيره دار بیا ورته وويل

چې حجاج مړ شو! سړی ولاړ، دریم ځل بیا ورغی او حجاج سره د لیدلو غوښتنه یې تکرار کړه، دا ځل پیره دار ورته په قهر شو، ورته ویې ویل: څو ځله مې درته وویل چې حجاج مړ شوی، خو ته بیا بیا راځې! ته په خبره نه پوهیږې؟! سړي ورته وویل: ښه پوهیږم، خو د حجاج د مرګ خبر له بیا بیا اوریدا خوند اخلم.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ وتلی فقیه امام احمد السمرقندي الشافعي (وفاة:٩٠٥هـ) رحمه الله، د عربو سیمو کې څه موده استاد او ښوونکی پاتې شو، کله چې بېرته خپل وطن ته تلی؛ خلک د خدای پاماني لپاره ورسره ووتل، خلکو هغه ته وویل: څنګه دې خوښه ده، موږ ستا نه مخکې روان شو، که وروسته؟ هغه ورته وویل: ستاسو عربو څنګه رواج ده؟ هغوی ورته وویل: موږ شپه کې د شیخ مخته روان یو او ورځ کې ترشا ورپسې ځو! خلکو هغه ته وویل: ستاسو څنګه رواج دی؟ ده ورته وویل: زموږ رواج، تکلف نه کول دي.
الکواکب السائرة لـ نجم الدین الغزي

مطلب د شیخانو او مشرانو شاومخته تګ و راتګ او منډې رامنډې تکلف او له اړتیا زیات زحمت ایستل دي، او تکلف چټې ځان زورول دي. «وَ ما أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ».

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ چرته یې له کوچي نه لیبارټري کې د معایناتو د فیس (1800) افغانۍ واخیستلې! هغه زوی ته په له قهره ډک نظر کتل، اخیر یې ورته وویل: هلکه! که وینه کې دې څه راونه ختل؛ خوښ به دې شم...

□□□□□□□□□□

❖ درې کیسې او د هغو پایلې

لومړۍ کیسه

○ زوی مې ویده شوی و، خپل د لوبو ایپیډ یې برق ته نه و ایښی ، هغه ما برق ته ورکړ، سهار چې راپاڅید ډېر خوشاله شو او زما نه یې زیاته مننه وکړه. بله ورځ یې بیا ایپیډ برق ته نه و ورکړی او ما ورته کېښود، په سهار یې خبره بابیزه وشمیرله، هیڅ یې هم ونه ویل! دریمه ورځ هم همداسې تکرار شوه، هیڅ به یې هم ونه ویل.

څلورمه ورځ زه ناوخته، له کاره ستړی راغلم، ایپیډ او هیڅ شي ته مې پام نه شو، سبا سهار مې چې زوی راپاڅید، ایپیډ یې ولید چې برق ته نه دی ورکړل شوی؛ نو مخ یې تروش او تندی ګونځي ونیو ... ان سهار ناشته یې لا نه خوړله، بړوس ناست و، ماته یې له خنګه کتل، ګواکې برق ته د ایپیډ نه ورکولو ګناه مې نابخشودنی ده!

دویمه کیسه

○ بله واورئ، يو ملګری مې عادت کړی و، هر وخت به مې موبايل ورته کوه، د روغ رنځور پوښتنه به مې کوله، د اولاد او خپلوانو حالات به مې پوښتی. بله ورخ ناروغ شوم، ناروغي مې ځو مياشتې اوږده شوه، ډېر وخت روغتون کې وم، بيا له کوره نه شوی وتلی، ان ډېره موده خو موبايل کې د خبرو هم نه وم. چې روغ شوم يوه ورځ مې بازار کې وليد، نه راته موسکی شو، نه يې د روغ ناروغ پوښتنه رانه وکړه، بلکې په تريو تندي يې راته کړه: اوس خو مو ان موبايل کې هم پوښتنه نه کوې، دنيا دې زياته شوه اوس درشکه غټه سوه!

دريمه کيسه

○ دريمه کيسه داسې ده چې پينځو وروڼو ته له پلاره ډېر جايداد پاتې سو، هغه يې په ګډه په کرايه ورکړ، دوی کې يو يې شتمن و، هغه نورو وروڼو ته وويل: په دې کرايه تاسو ګذاره کوئ، زه الحمد لله وس کې ښه يم، څه وخت وروسته شتمن ورور تجارتونو کې زيات تاوانونه وکړل، نو حالت يې بېخونده سو، له مجبوري يې يوه ورځ وروڼه کېنول، خپل مشکلات يې ورته بيان کړل او راتلونکي وخت کې يې د پدري ګډ جايداد کرايه کې خپله برخه وغوښتله. دوی يوه بل ته په تعجب وکتل او مخونو کې يې د تعجب او انکار نښې ښکاره شوې!!

## پایلې

○ د زوی کیسه کې مې چې د هغه چلند ولید د یوې اونۍ لپاره مې ایپیډ ورنه واخیست، وروسته مې په دې شرط ورکړ چې پخپله به یې پخپل ټاکلي ځای کې برق ته ورکوی، د هغه په ځانګړې الماریۍ کې به یې خوندې ږدي، داراز به خپله بستره پخپله خوندې کوي او خپل ټول سامان به پر ځای او کنترول لري. په دې توګه مې هغه ته د قانون په رڼا کې خپل مسؤلیت وروښود، دا هغه مهال چې ان د خپل پلار د لوړ اخلاقي چلند په پېژندنه کې ناکام شوی و.

○ ملګري سره مې اړیکې له صمیمیت نه عادی حالت ته راوایستلې او بالمثل چلند مې ورسره پیل کړ، پایله کې ملګرتیا په عام شناخت بدله شوه، لنډ سلام علیک، کله خو روغبړ او ښه جوړ ان د لاس په اشاره کافي بلل کیدل.

○ هغه پینځو وروڼو خبره محکمې ته ورسوله او هر یوه ته د قانون له وېش سره سم خپل حق ورسید، خپلو کې سره خپه او ان عام مناسبات او ترمنځ یې تګ راتګ هم ختم شو.

## نتیجه

د نن زمانې اکثره خلکو سره د میني او احترام په چلند هغوی ګومان کوي دا زموږ ثابت حقونه دي! او نور باید له دوی سره همداسې واوسي، که څه هم په کار خو داسې ده چې د میني او احترام مقابل کې ورته چلند وکړل شي، خو د وخت ډېری خلک

داسې نه کوي، بلکې هغوی د ځان احترام او له هغه سره مينه درباندې لازمه بولي! دې بې انصافه چلند په عمومي توګه د خلکو پر غوره اخلاقو ناسم اغېز کړی، بناء خلکو سره په ښه او غوره چلند کې #هوښيار او محتاط اوسئ.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ مباحثه د څه لپاره؟

امام ابو حنيفة رحمه الله له داسې بحث او جدال نه نفرت کاوه چې هغه به د حق ښکاره کولو/روښانولو په نيت نه و، بلکې پر مخالف د برلاسي، تعنت او سرټمبګي لپاره به و. روايت کې راغلي، امام ابو يوسف رحمه الله وايي: موږ له امام ابو حنيفة سره ناست وو، چې يوه ډله خلک راغلل، دوه سړي يې لاس نيولي راوستل، هغوی وويل: دا يو وايي: قران مخلوق دی او دا بل بحث ورسره کوي ورته وايي: نه دی مخلوق. امام ابو حنيفة رحمه الله ورته وويل: دواړو پسې لمونځ مه کوئ.

امام ابو يوسف رحمه الله ورته وويل: د اول سړي باره کې مو خبره صحي ده، هغه چې قران مخلوق ګڼي او دا دويم پسې ولې لمونځ ونه شي؟! امام ابو حنيفة ورته وويل: دوی دواړه په دين کې جګړه کوي او په دين کې جګړه بدعت ده. په دې سره د امام رحمه الله موخه دا وه چې دوی دواړه په دين کې اميان دي او د امي نزاع او شخړه د حق ښکاره/روښانه کولو لپاره نه يي، بلکې په سرټمبګي

بنا يي، نو په دې سره هغه فاسق ګرځي او فاسق پسې جماعت کول په کار نه دي.

او د حق ښکاره کولو/روښانه کولو په نيت بحث او نقاش کې کراهيت او بدي نشته، بلکې په دې طريقه حق ښکاره کولو باندې قران امر کړی دی. او دوی سره په ترټولو ښه طريقه مباحثه وکړه. {وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ}. بناء مباحثه بايد يوازې د حق ښکاره کولو او روښانه کولو لپاره يي. مفتاح السعادة لطاش کبري زاده 137/2. اصول الدين عند الامام ابي حنيفة لدکتور محمد بن عبد الرحمان الخميس

◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ په کوزه کې

بغداد کې يو سړی بېکاره و، وظيفه يې نه لرله، څه وخت وروسته بغداد کې وبا ګډه شوه، نو ده ته يوه دنده پيدا شوه او ده په خوشالي ومنله، هغه دنده دا وه چې د هديرې دروازه کې به ناست و او د په وبا وژل شويو ورځنی حساب به يې معلوموه.

د کيسې راوي الأصمعي وايي: دی به د هديرې دروازه کې ناست و ، يوه طرف ته به يې لويه کوزه وه، بل لور ته به يې کوټه واړه کاڼي پراته وو، کله به چې جنازه هديرې ته ته ننوتله ده به کوچنی کاڼی په کوزه کې واچوه. اصمعي زياتوي يوه ورځ يوې جنازې سره هديرې ته ولاړم، چې ومې کتل هغه سړی نه و، پر ځای يې بل ناست و، ما د هغه باره

کې پوښتنه ورنه وکړه مال چرته دی؟ هغه رالنډه کړه: په کوزه کې دی.

پایله: په ډېره ناخبري او ناڅاپي توګه به له دنیا ځو، دا هر ډول ژوند اوخصوصا واک او دندې به ټولې پاتې کیږي، متاسفانه چې موږ د غفلت شرابو مست او نشه کړی یو.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ د جومات امام او ابو حنیفة کیسه

یو ماخوستن امام ابو حنیفة رحمه الله په امام پسې لمونځ وکړ، هغه په لمانځه کې د "الزلزلة" سورت تلاوت کړ، کله چې لمونځ پوره شو او خلک له جوماته ووتل، جومات کې یوازې امام او ابو حنیفة رحمه الله پاتې شول، د جومات امام وایي: ابو حنیفة ته مې کتل چې په فکر کې پر خپل ځای ناست و، نو زه ورو ولاړ شوم، مال چې دی راباندې پوه نه شي، د جومات څراغ کې تېل هم کم پاتې وو، هغه مې بل پرېښود او زه کور ته ولاړم.

د جومات امام زیاتوي: سبا سپیده چاود مهال چې جومات ته ولاړم، امام ابو حنیفة جومات کې ناست و او دا دعا یې کوله: اې هغه ذاته! چې د مثقال ذرې ښو بدله هم ورکوې او د مثقال ذرې شر بدله هم ورکوې؛ ستا بنده نعمان هم له اوره وژغوره او ستا پراخه رحمتونو کې ځای ورکړه. "یا من یجزی بمثقال ذرةٍ خیرًا، و یا من یجزی بمثقال ذرةٍ شرٍّ شرًّا،

أَجِر النعمانَ عبدَكَ من النار ، وأدخله فى سعة رحمتك"

د جومات امام وايي: جومات ته چې ورننوتلم ځراغ لا هماغسې لګيده، ابو حنيفة چې زه وليدلم راته ويې ويل: ځراغ دراخلې؟ يعني ده ګومان کاوه چې لا ماخوستن دی! ما ورته وويل: سهار شوی دی! نو ده راته وويل: زمانه چې دې څه وليدل دا چا ته مه وايه، نو بيا يې دوه رکعته لمونځ وکړ او کېناست، څو زموږ سره د هماغه ماخوستن په اوداسه د سهار لمونځ وکړي. امام وايي: د ابو حنيفة دا کيسه مې د هغه په ژوند کې هيچا ته هم ونه کړه.

مأخذونه:

تاريخ بغداد : (١٣/٣٥٥)

الوافي بالوفيات : (٢٧/٩١)

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ د خپلو ورونو مرۍ مه پرې کوئ

يوه صحابي د رسول الله ﷺ مخکې د چا ستاينه وکړه، هغه ورته وفرمايل: ستا پر حال افسوس دی، د خپل ورور غاړه دې پرې کړه (ويْلَكَ، قَطَعْتَ عُنُقَ أخِيكَ، البخاري). شارحين ليکي: په ستاينه سره انسان مغرور او له کبره وپړسيږي او تکبر و غرور په ديني لحاظ د بنده ذبحه کيدل او مرګ دی. نو د چا ستاينه په ديني لحاظ د هغه مرۍ پرېکول او د هلاکت کندې ته ټېل وهل دي.

تاسو چې د چا ستاینه کوئ یا به یې د #چاپلوسې په نیت کوئ او یا به مو له زړه ورسره مینه یي او د الله لپاره به یې ستاینه کوئ؛ نو په دواړو صورتونو کې، د چا ستاینه د هغه د مړی پرې کولو معنا لري. که فرضا په سیاسي لحاظ ځینې ستاینې لازمي بولئ بیا هم باید ځانګړې کړنې وستایل شي، نه اشخاص، د اشخاصو ستایل او ډېر پړسول خپل صف ته ضرر رسول دي، دا صف پخپل مسیر او تګلاره پیاوړی ده، پخپله ګروهه غني او بډایه ده، اشخاص به په کې ځي او راځي. بناءً د خپلو ورونو مرۍ مه پرې کوئ.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

## ❖ د اوبو ټانکر!

د بوډا د ژوند وروستۍ ګړۍ وې، ډاکټر یې خواته ناست و، خپلو دریو زامنو ته لګیا شو، یوه ته یې وویل: زویه! هوټلونه به ستا یي! دویم ته یې وویل: سوپرمارکیټونه به ستا یی! دریم ته یې وویل: کورونه به ستا یي! ډاکټر د بوډا شتمني او عادلانه وېش ته په تعجب کې شو! خو زامنو یې په ژړا پیل وکړ، ډاکټر ورته وویل : تاسو خپل پلار ته دعاګانې کوئ، ژاړئ ولې؟!

د ده له وفات وروسته به پرېمانه شتمنۍ او جایدادونه سره جلا کړئ، نو پلار مو باید هیڅکله هېر نه کړئ او خیراتونه ورپسې کوئ. ډاکټر په دې اړه د

تسلیت او هغوی ته د زیاتو شتمنیو د رسیدا په اړه خبرې اوږدې کړې، د بوډا یوه زوی ورو غوندې ورته وویل: ډاکټر صیب! زموږ پلار د اوبو ټانکر لري، د هغه کار یې موږ ته راوپېشه!

□□□□□□□□□□□□□□□

❖ یوه سړي خپله مېرمن په قسم بنده کړه، چې ایا زه درباندې ګران یم؟ هغې ورته کړه: نه! دا خبره عمر بن الخطاب رضي الله عنه ته ورسیدله، هغه دې ښځې ته وویل: تا دې مېړه ته وویل چې کرکه درنه لرم؟! هغې ول هو، هغه په الله قسم راکړ، نو دروغ مې نه سوی ورته ویلی، عمر ورته وویل: دروغ ورته وایه، که ستاسو کومه مېرمن له خپله مېړه سره مینه نه لري؛ بیا دې هم داسې نه ورته وایی چې مینه نه درسره لرم. کمې کورنۍ دي چې په مینه جوړې شوې دي، خلک د اسلام او یوه بل سره د ښېګڼې پر اساس ژوند سره کوي. المساوىء للخرائطي (۱۷۸)

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ دې زاړه موټر کې یوه ازري (د ازربایجان اوسیدونکي) د ترکیې زلزله ځپلو ته د مرستې لپاره سامان وربار کړی و، د سړي د دې موټر عکسونه خواله رسنیو کې تاوراتاو شول او خلکو ډېر وستایه، خدازده دا سامان به یې ترکیې ته رسولی یي که نه، خو اوس یوه ازري تجار دا نوی ماډل کرولا ورته ډالۍ کړه!

زرين اکا چې دا عکسونه وليدل ول سبحان الله! د خيرات بدله څومره تېزه يي! نظر دين له ځان سره وموسل او ورغبرګه يې کړه : په دې خو ماشومان هم پوهيږي چې دا نوی ماډل کرولا له هغې شليدلې کرولا تېزه ده...

□□□□□□□□□□□□□

❖ عمر بن الخطاب رضي الله عنه سعد رضي الله عنه ته وليکل: کله چې د الله له کوم بنده سره مينه شي؛ خلکو ته يې ورګران کړي او د خلکو مينه ورسره زياته شي، نو وګوره! چې د خلکو په نزد ستا کوم مقام دی؛ هماغه مقام او درجه به دې د الله تعالی په نزد هم يي. العقد الفريد للابن عبد ربه الاندلسي ۱۶۶/

□□□□□□□□□□□□□

❖ عون بن عبد الله رحمه الله وايي : هغه خلک چې شپه ورځ د خلکو په عيبونو اختِه يې؛ تر ټولو ستر غافلان دي. الصمت لابن أَبي الدنيا (۱۹۸)

□□□□□□□□□□

❖ يو سودانی مدينة منورة کې د (الأبيار) نومي کلي کې ښوونکی وټاکل شو، څه وخت وروسته بل ځای ته نقل شو چې هغه ځای (بير مبيريك) نوميده، وروسته بيل بل ځای ته وليږل شو چې هغه ځای (أبيار الماشي) نوميده! وروسته د (آبيار علي) په نوم ځای ته نقل شو!

بله ورځ سوډانی د معارف رئیس ته ورغی، ښې
له مقدمې یې په قهرجنه لهجه ورته وویل: وه
سړیه ! څو شپې یوه بیر (کوهي) کې یم څه
موده بل کې، د الله په پار په ما مو څه ریشخند
شرو کړی! زه ښوونکی یم که سلواغه؟!

❖❖❖❖❖❖❖❖❖❖

❖ بیداره مور لور ته تنبلي ورزده کوي!

پرتګالي #متل

❖❖❖❖❖❖❖❖❖

❖ د ځوان رومي ډاکټر

او نورالدین زنګي کیسه

رومي ځوان امیر نور الدین زنګي رحمه الله * ته ورغی، اسلام یې قبول کړ او له امیر نه یې وغوښتل چې زه غواړم همدلته له مسلمانانو سره واوسم، نور الدین ورته وویل: ته څه مهارت لرې؟ ځوان ورته وویل: زه د جراحي برخه کې طبیب یعني ډاکټر یم ، نور الدین زنګي ورته وویل: ته کولی شې زموږ سره زموږ د ټپي پوځیانو برخه کې کار وکړې؟ ځوان ورته وویل: په الله مې قسم چې د همدې لپاره خو زه راغلی یم، که په دې توګه مې الله تعالی ګناهونه او د کفارو پوځیانو د علاج کولو ګناه راته وبښي، نور الدین زنګي ورته وویل: زویه! په توبه او اسلام منلو سره دا ټول ګناهونه ښبل کیږي.

بیا نور الدین زنګي ورته وویل: ته به درمل او د علاج وسایل ترکومه راوړې؟ هغه ورته وویل: صیب دا یوازې د روم هیواد کې پیدا کیږي، نور الدین ورته وویل: په الله قسم که دا خبره ومنم چې خپلو ټپیانو ته به د دښمن له هیواده درمل راوړم، نو رومي ځوان ته یې وویل: زموږ د پوځ یوه ډله ځوانان په ساده جامو کې درسره بوځه او له روم هیواد نه د درملو بوټي راوړه چې موږ هماغه رقم بوټي دلته برابر کړو، ځوان له خپلو ملګرو سره ولاړ، څه وخت وروسته یې هغه څه راوړل چې نور الدین زنګي ورته ښوولی وو.

نور الدین زنګي هغه ته د ضرورت په اندازه سره زر او ځمکه ورکړه، څو کسان یې هم ورکړل او ورته ویې ویل چې د ضرورت وړ د درملو ټول بوټي وکره او وپاله او چې کله تیار شي بیا یې موږ ته راوړه. داراز نورالدین هغه ته د هغه د خپل شخصي لګښت لپاره هم ځمکه ورکړه.

څه وخت وروسته ځوان او د هغه ملګري ټیم هغه طبي بوټي تیار کړل، نور الدین زنګي هغه ته بل ځای ورکړ چې هغه هلته د درمل جوړولو ځای برابر کړي، داراز هغه ته یې یوه ډله ځوانان هم ورکړل چې هغه د درمل جوړولو طریقې وروښیی او داراز طبي زده کړې ورکړي، چې بیا د مسلمانانو بل چا ته ضرورت پیدا نه شي او مسلمانان د طب په برخه کې خپل خلک ولري.

څه موده وروسته ځوان رومي ډاکټر نور الدين زنګي ته ورغی او ورته ويې ويل: عالي قدر مشره! ما ځوانانو ته طبي زده کړې ورکړې، اوس په دې برخه کې ماته زياته اړتيا نسته، نو ما ته اجازه راکړه چې د مسلمانانو لښکر تر څنګ د کفارو پر خلاف جګړه وکړم، څکه ما ته د الله تعالی لاره کې شهـادتـ خوند راکوي. نور الدين زنګي ورته وويل: خپل وصيت دې وليکه او پخپله حلاله روزي وسله درته واخله او د الله تعالی لاره کې ووځه.

ځوان رومي ډاکټر په ډېرو جګړو کې د نور الدين زنګي په قومنده کې د مسلمانانو د لښکرو تر څنګ د کفارو پر خلاف سخت وجنګيدی، بل وخت نور الدين زنګي له يوې معرکې وروسته هغه د شهيدانو منځ کې وموند! په غېږ کې يې ونيو او ډېر زيات يې پرې وژړل، وروسته يې د هغه په جيب کې د هغه په لاس ليکلی وصيت پيدا کړ چې د هغه وصيت يوه برخه کې داسې ليکلي و:

زما محترم مشره! زه پوه شوم چې تا زما نه کوم کارونه غوښتل او ما ترسره کړل؛ ستا موخه دا وه چې بايد مومن پخپل کور پوره يي او د دې جوګه يي چې خپل ضرورتونه پخپله پوره کولی شي، ستا ارموخه دا وه چې مسلمانان به تر هغه وخته پخپلو پښو ونه دريږي تر څو پخپلو لاسونو ځانونو ته خواړه برابر نه کړي او داراز مسلمانان به تر هغه پخپلو پښو ونه دريږي تر څو د خپل ضرورت درمل او خپلې وسلې پخپلو لاسونو ځانونو ته جوړې او تيارې نه

کړي. الله دې تا ته د خير بدله درکړي او الله مې دې جنت کې ستا ملګرتيا په نصيب کړي. البداية والنهاية لابن كثير

* نور الدين زنګي رحمه الله د اسلامي تاريخ پياوړی، صالح او راشد واکمن تېر شوی، ان تر دې چې ځينې مؤرخينو شپږم راشد خليفه بللی! رحمه الله تعالی

◇◈◈◈◈◈◈◇

❖ د دې امت بدمرغي خومره لويه ده! د دې امت ازموينه خومره سخته ده! ځکه داعيان يې هم داعيانو ته اړتيا لري! النظرات١٩٩ للمنفلوطي رحمه الله

◇◈◈◈◈◈◈◈◈◈◇

❖ څلور زړه وژني:

① پر ګناه د پاسه ګناه

② ښځو سره ډېرې خبرې

③ کم عقلانو سره ټوکې

④ مړو سره ناسته!

يعني غافل شتمن او ظالم واکمن سره ناسته! له مړو سره ناسته ده! او دا د محمد بن واسع رحمه الله، خبره ده. تهذيب الحلية | 414/1

❖ د وتلي روسي فيلسوف او ليکوال ( Fyodor Mikhailovich Dostoevsky)، فيډور

ډوستیوویسکي (1881/1821)، څو په زړه پورې کرښې.

✓ زما قبر ته د راتګ لپاره د ګلانو ګېډۍ راوړل چټي کار دی، داراز زما د قبر سر ته اوښکو تویه ولو ته هم اړتیا نسته، یو سنډویچ واخله او د هدیرې پیره دار ته یې ورکړه!

✓ - اوس مو‌ړ چرته یو ... ؟

- کنده کې ...

- ډېر ښه اقلا بیا به نه پرځو!

✓ څنګه به یې که هغه ستا د کوټې کرړي چې تا مړ کړ، ټول ژوند دا فکر کوه چې ته یې د استوګن ځای ملګری یې ... !

✓ زړه کې دننه بل اور، اور مه بوله، بلکې موسکی شه او ووایه: دا مې د کباب مېله جوړه کړې ده!

✓ هغه بوډا/بوډۍ څومره بدمرغه دی، چې پخپل زوی پورې یې ټولې هیلې تړلې یي، خو چې راویښ شي د بوډاګانو کور کې پروت یي.

✓ خلک له زورورو کرکه کوي، خو پیروي یې کوي او له کمزورو سره مینه لري خو په سپکه ورته ګوري!

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ له دې سختې هم شته

په زړه پورې کیسه

#کیسه_کا چرته یو سړی و، د هغه عادت و چې هر څه به ورپېښ شول نو وبه یې ویل : "هغه چې الله تعالی پټ کړي تر دې ډېر لوی دي" یوه ورځ دا سړی له خپل زوی سره په سفر ووت، دوی یوه لیري ښار ته تلل ، دوی سره یې یو خر و او پر هغه یې خپل د سفر سامان بار کړی و، لاره کې چرته خر وښویېدی او پښه یې وچه په دا لېنګي کې غوټه ماته شوه! سړي اکا له عادت سره سم خپله خبره وکړه: "هغه چې الله تعالی پټ کړي تر دې ډېر لوی دي".

زوی او پلار خپل سامان دوه ځایه کړ، نیم پلار او نیم زوی اوړو ته پورته او سفر ته یې دوام ورکړ، له څه وخت سفر وروسته د پلار پښه واوښتله، درب راولوید او ښه کلک خوږ شو، همدا د پروتې حالت کې یې خپله خبر تکرار کړه: "هغه چې الله تعالی پټ کړي تر دې ډېر لوی دي"، زوی یې د پلار سامان هم واخیست او روان شول.

کله په ژوند کې د ستونزو او بدو پېښو لړی اوږده شي، چې له یوه درده وتلی لا نه یي د بل سلام علیک شي! زموږ د سړي اکا او زوی سفر هم داسې ستونزمن او له بدو پېښو ډک و، له څه موده سفر وروسته یې زوی مار وچیچی او په سخت کړاو اخته شو، خو سړي بیا خپله خبره تکرار کړه: "هغه چې الله تعالی پټ کړي تر دې ډېر لوی دي"، دلته یې زوی ورته غوسه شو، ول پلاره تر دې به سختې لا څنګه یي؟!

کله چې د سړي زوی ! روغ شو، بيا روان شول او خپل منزل ته ورسيدل ... څرنګه چې ورسيدل عجيبه يې وليدله! هغه داسې چې هغه ښار سترې خطرناکې زلزلې مکمل نړولی و او هيڅ ساکښ ژوندی نه و په کې پاتې! دلته سړي خپل زوی ته وويل: زويه! که لاره کې موږ ته هغه درې پېښې نه وی رارسيدلې موږ به له دې زلزلې مخکې دې ښار ته رارسدلي وو!! نو دا چې الله تعالی زموږ نه پټه کړې وه له هغو پېښو ډېره سخته او لويه وه... زوی يې هم وويل: رښتيا هم پلار جانه! "هغه چې الله تعالی پټ کړي تر دې ډېر لوی دي".

پايله: او کيدی شي له يوه شي تاسې کرکه ولرئ؛ خو هغه به ستاسو لپاره ډېر ښه يي. او کيدی شي له يوه شي سره به تاسې مينه لرئ؛ خو هغه به ستاسو لپاره ډېر بد يي. وَعَسَىٰٓ أَن تَكْرَهُوا شَيْـًٔا وَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَعَسَىٰٓ أَن تُحِبُّوا شَيْـًٔا وَهُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ۗ [سُوۡرَةُ البَقَرَة:216]

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ مجردانو ته ډاډ

ډاکټر روغتون کې د ليونيانو برخي ته ورغی، يو ليونی يې وليد چې سر يې له ديواله سره واهه! ډاکټر له موظفې نرسې پوښتنه وکړه چې د ده څه کيسه ده؟ هغې ورته وويل: دا په يوه نجلۍ مين و، هغه يې بل ځای ورنه واده کړې ده! ډاکټر مخته ولاړ، يو بل ليونی يې وليد چې خپل سر يې په بوټونو

واهه! ډاکټر بیا پوښتنه وکړه، نرسې ورته وویل: ده د
هماغه بل لیوني معشوقه کړې ده...

اتې #مجردانو حضراتو

ته نور خنګه ډاډ ورکړو؟!

□□□□□□□□□□□□

❖ دقیقه نبوي وړاندوینې

رسول الله ﷺ فرمايي: نږدې ده پر خلکو به له دوکو
ډک کلونه راشي، چې هغو کې به:

دروغژن رښتینی بلل کیږي

رښتینی به دروغژن بلل کیږي

خاین به امانتدار بلل کیږي

امانتدار به خاین بلل کیږي

او په دې کلونو کې به (الرُّوَيبِضَةُ) غږيږي، چا وويل:
الرويبضة څوک دی؟ هغه وفرمايل: سپک و چټې
سړی به د عامو خلکو په مهمو خبرو کې غږيږي!

قال رسول الله ﷺ: سيأتِي على الناسِ سنواتٌ
خدّاعاتٌ؛

يُصدَّقُ فيها الكاذِبُ،

ويُكذَّبُ فيها الصادِقُ،

ويُؤتَمَنُ فيها الخائِنُ،

ويخَوَّنُ فيها الأمينُ،

وينطِقُ فيها الرُّوَيبِضَةُ. قِيلَ: وما الرُّويْبِضةُ؟ قال: الرجُلُ التّافِهُ يتَكلَّمُ في أمرِ العامةِ. رواه احمد وابن ماجة

د حديثو شارحين ليکي: دا حديث د نبوت له دلايلو شمېرل کيږي، يعني په دې حديث کې راغلې وړاندوينې موجوده زمانه کې ټولې ربښتينې ختلې دي، نو ښکاره خبره ده چې د رسول الله خبرې د الله تعالی ورته وحي کړل شوې خبرې دي او هغه له ځانه نه دی غږېدلی.

که موجوده زمانه کې موږ د خلک عام چلند ته متوجه شو، د وخت عامو رسنيو ته ځير شو او داراز خواله رسنيو ته متوجه شو او بيا د حديث يوې يوې جملې ته پام وکړو؛ خبره به د لمر په څير روښانه شي چې دا د الله سپېڅلی استازی داسې غږېدلی لکه کټمټ چې فعلا زموږ زمانه کې راسره اوسي! فصلوات الله عليه وسلامه.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖علامة ابن هبيرة الوزير رحمه الله د امر بالمعروف والو ته د نصيحت په توګه ووېل: په ګناهګارو د پردې اچولو کوښښ کوئ، ځکه د هغوی ګناهونه ښکاره کېدل د مسلمانانو لپاره عيب ده او عيبونه پټول په اسلام کې تر ټولو مهم کار دی. ذيل طبقات الحنابلة لابن رجب (٢/ ١٥٧)، جامع العلوم والحکم(٢/ ٢٧٧)

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ هغوی هڅه وکړه موږ دفن کړي! خو خبر نه وو چې موږ تُخم یو! مکسیکي #متل

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ عمر بن عبد العزیز او یو شاعر

حمید په نوم یو ډېر هوښیار شاعر و، خو اخلاقي کمزورۍ یې هم لرلې، ده یوه ورځ له عمر بن عبد العزیز رحمه الله سره مجلس کې خبرې کولې، عمر ورته وویل: حمیده! پلار دې ډېر ښه سړی و او ته بد سړی یې، حمید ورته وویل: د مومنانو امیره! ضروري نه ده چې زامن به خامخا د پلرونو غوندې یي او د هغوی پر لار به روان یي، ته خپله ځان ته وګوره! ته ښه سړی یې، اما د پلار دې خونده نه وه، یعني پلار دې ښه سړی نه و! التمهید لابن عبد البر 2/32

عرب په ټولیزه توګه حقیقت خوښي خلک دي، مجاملې او بېځایه تکلفات هم په کې کم دي، دا صفات په دوی کې پخوا زیات و، لکه دې روایت کې حمید بې تکلفه د وخت امیر المومنین ته وایي: ته ښه سړی یې او پلار دې بد سړی و! خو عمر هیڅ نه ورته وایي، ځکه دا خبره حقیقت وه، عبدالعزیز د بنوامیة و یو امیر و، ځینې کمزورۍ یې لرلې.

□□□□□□□□□

❖ غریبانو سره مینه د پیغمبرانو اخلاق دي، غریبانو سره ناسته د نېکانو ښه ده او له غریبانو تېښته د منافقانو ښه ده. فیض القدیر للمناوي رحمه الله (١/ ١٠٩)

□□□□□□□□□□□

❖ دې مالت کې زمور ولې عزت وشي
نۀ مو قتل کړی یاره او نه غلۀ یو
بسمل

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ له بنه دقت، چروت او غور وروسته شعر کې په لنډه توګه غوره او لوی مفاهیم ځائیږي لکه:

قد يُكرمُ القردُ إعجاباً بخسّتهِ

وقد يُهانُ لفرطِ النخوةِ الأسدُ

یعني کله خلکو ته د بیزوګي ذلت او سپکوالی خوند ورکړي؛ نو عزت یې کوي او زمری د خپل غیرت او مېړاني له امله سپکیږي!!

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ تلل راتلل به و، ناسته پاسته به وه، مینه وه، د میني مجلسونه او خواله و! چې یو کافر راپورته شو، دې هر څه ته یې لته ورکړه او خواله رسنی یې ایجاد کړې!

□□□□□□□□□□□□

❖ حسن البصري رحمه الله وايي: څوک چې ګناه وکړي او بیا توبه وباسي؛ دا کس خامخا الله ته ورنږدې شي، داراز هر وخت چې ګناه او بیا توبه کوي، دا په ګناه، بې ګناه او توبو سره د الله تعالی لور ته تګ دی! تر چې اخرت ته ورسیږي. {فیض القدیر:3/285}.

باید ووایو چې دا د مخلصانه او رښتینې توبې ګټې دي، نه هغه زمور په څېر د خولې توبه توبه او غوړونه نیول...

□□□□□□□□□□

❖ د يوه صحابي "والي" خرګندونې

عبدالله بن بريده وايي: د رسول الله ﷺ يو صحابي، د مصر والي فضالة بن عبيد رضي الله عنه ته ورغی، هغه ته يې وويل: دلته يواځې ستاسو ليدلو ته نه يم راغلی، بلکې ما او تا له رسول الله ﷺ نه يو حديث اوريدلی و، هيله لرم د هغه حديث باره کې به ته علم لرې، هغه ورته وويل: کوم يو؟ ده ورته وويل: داسې او هغسې (حديث يې ورته وښود).

وروسته هغه سړي فضالة ته وويل: ته د دومره پراخې ځمکې امير يې، ولې داسې ببر سر او کمزوري حالت کې يې؟! هغه ورته وويل: موږ به رسول الله ﷺ له رفاه او په نعمتونو کې له غرقيدا نه منعه مولو، سړي ورته وويل: نو تا خو پيزار هم نه دې پښو کړي؟! هغه ورته وويل: رسول الله ﷺ به موږ ته امر کوه چې کله کله بايد لوڅې پښې وګرځو. (كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا أَنْ نَحْتَفِيَ أَحْيَانًا). رواه أبو داود في السنن (4160) ، وأحمد في المسند. (23969.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ پر ځان د باور ښه لاره دا ده، چې هغه کار وکړې چې ورنه ډاريږې!

❖ پر غلطه لاره تېز تګ ګټه نه لري.

□□□□□□□□□□□

❖ وتلی عرب شاعر فرزدق وايي : د هيچا ځواب دومره نه يم سترې کړی لکه د يوه ماشوم ځواب! هغه داسې چې يو

وخت مې بصره کې شعرونه ويل، يوه ماشوم ته زما
شعرونو ډېر خوند ورکړ، نو ورته ومې ويل، مال ته هيله لرې
چې زه دې پلار وی؟ هغه راته کړه: د پلار مې هيڅ سارى
نسته، خو مينه لرم چې کاش ته مې مور وى! نو ورو
غوندې مې ورته وويل: هلکه! پردې مې کوه، ستا ځواب نه
لرم. عيون الأخبار للدينوري

□□□□□□□□□□□□

❖ هغه جمله چې خلکو نه د ځان خلاصولو لپاره زياته کارول
کيږي: "مجلس کې يم ..."

□□□□□□□□□□□

❖ د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو رضي الله عنهم عادت و
چې د هر چا صفت او ستاينه به يې کوله؛ د رښتيا ستاينه
به يې کوله او حق خبره به يې کوله، د چا ستاينه به يې د
خپلوي، دوستي او هيڅ دنيايي غرض لپاره نه کوله.
الاستذكار لابن عبد البر رحمه الله (٢٦ / ١٢٤ )

يعني هغوی د هيچا #چاپلوسې نه کوله...

□□□□□□□□□□□□□□

❖ يو عاجز کليوال دوو ځوانانو منځ کې کېناست، ځوانانو ورته
وويل: وروره! ته کم عقل يې که جاهل؟ هغه ورته وويل:
سم يقيني نه شم درته ويلی، خو د دې دواړو تر منځ يم...

❖ هوښيار وايي: د کوم قوم وګړي چې د خپلو مړيو ډېر
صفتونه کوي؛ معنا دا چې ژونديو کې يې د صفت څوک
نشته!

□□□□□□□□□□□□

❖ رسول الله ﷺ فرمايي: بنده يواځې د الله په ذكر سره له شيطانه خلاصيدلی شي. قال رسول الله ﷺ : العبدُ لا ينجو من الشيطان إلا بذكر الله. صحيح الترغيب (١٦١٢)

□□□□□□□□□□□□□

❖ اموي خليفه عبدالملك بن مروان

وايي: د څلورو په خدمت شرم نه

دی په كار:

✓ عالم

✓ پلار

✓ مېلمه

✓ واكمن

العقد الفريد لابن

عبد ربه الاندلسي

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ حكيمانه فتوی

د مصر مشهور عالم محمد الراوي رحمه الله نه يوې ښځې فتوی وغوښتله چې مېړه مې رانه غواړي د هغه د ناروغې مور خدمت وكړم، خو زه يې نه كوم، ايا شرعا پر ما د هغې خدمت لازم دی؟ شيخ محمد الراوي په لاندې توګه ځواب وركړ.

ځواب: شرعا پر تا د هغه د مور خدمت لازم نه دی، بلکې دا د هغه وجیبه ده چې د خپلي مور خدمت پخپله وکړي او دی نه شي کولی تاسو د خپلي مور خدمت ته محبوره کړي.

شیخ زیاته کړه: خو ستا خاوند ته د دې ستونزي درې حل لارې ښیم:

لومړی حل: ستا مېړه دې خپله مور کور ته درولي، چې وکولی شي پخپله یې خدمت وکړي او داراز ستا او هغه زامن او لوڼه هم باید له خپل پلار سره په شریکه د خپلي انا خدمت وکړي، ځکه پر هغوی هم د خپلي انا خدمت واجب ده،

دویم حل:

که لومړی حل کارګر نه یي او خپله مور کورته نه شي راوستلی، نو دی دې د خپلي مور د خدمت لپاره د هغې کور ته ورځي، که چرته ضرورت و دی هلته له خپلي مور سره شپې ورځې هم کولی شي،

دریم حل: که دا حل هم کارګر نه یي، باید مېړه دې خپلي مور ته خدمتګاره ونیسي او په ده باندې د خدمتګاري معاش او نفقه لازمه ده، دی باید ستاسو نفقه راکمه کړي او هغوی ته مناسب لګښت برابر کړي، که چرته خپلي مور ته د ورتګ حالت کې پر ده شک او شبه کیدله، نو مشوره ورکوم چې له دې خادمي سره واده وکړي، چې د خلکو شکوک او شبهې له منځه ولاړې شي.

شیخ صاحب فتوی غوښتونکې مېرمني ته وویل: ته غوسه کیږه مه، په کوم شریعت کې چې ته د خپلي خواښې له خدمته ځان خلاصول غواړې؛ همدا شریعت ستا خاوند ته د دوو او څو ښځو

کولو حق ورکړی دی، بناء ته پخپل کور کې مکرمه او معززه کېنه، ځکه د خوابنېې خدمت درباندې نشته !!

کله چې مفتي مفتي يي، هغه داسې حکيمانه فتوی صادروي!

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِى خَلَقَ. ولوله، د خپل رب په نوم چې هغه (ټول مخلوقات) پېدا کړي.

□□□□□□□□□□□

❖ شفاء بنت عبد الله رضي الله عنها وايي: زه د حفصې رضي الله عنها خواته وم، چې رسول الله ﷺ راننوت، نو راته ويې فرمايل: ايا ته دېته د نملة (يو ډول ناروغي) دم نه ورښيې، لکه څنګه دې چې ليکل ورزده کړي دي. عن الشفاء بنت عبد الله رضي الله عنها قالت: دخل عليَّ رسول الله ﷺ وأنا عند حفصة، فقال لي: ألا تعلمين هذه رقية النملة كما علمتيها الكتابة؟. أخرجه أبو داود كتاب الطب باب في الرقى رقم/3869/. و أحمد في مسنده (372/6) والحاكم في المستدرك 57/4 وقال صحيح.

❖ د حال پوښتنه

يوه سړي خپل ملګري ته شکايت وکړ چې پوروړي تنګ کړی يم، نو هغه يې دستې پور ورته پرې کړ، کور ته چې ولاړ له سترګو يې اوښکې روانې وې او ژړل يې، مېرمني يې ورته وويل چې دومره درته سختيدله؛ څه بهانه به دې ورته کړې وه، سړی په ژړا کې موسکی شو، ول داسې نه ده، بلکې په دې ژاړم چې ولې مې د ملګري له سواله مخکې د هغه د حال پوښتنه نه کوله! المستطرف للأبشيهي

□□□□□□□□□□

❖ عمر بن عبد العزيز رضي الله عنه وايي: د هغو خلکو له ډلي مه کيږه چې حق يې په طبيعت برابر شي؛ مني يې او که حق يې په طبيعت برابر نه شي نه يې مني. جامع المسائل | لابن تيمية ٦/١٤٤

□□□□□□□□□□□

❖ د يوه سړي يوه مېرمن او ايکي يو زوی و، زوی يې تور نوميدی، اتې راولاړ سو بله کوژدن يې وکړه! د الله کړه و هغه له واده مخکې وفات سوه، سړي خپلې مېرمني ته وويل: ياره د تور مورې! الله تعالی سخت درته وشرمولم! نو الله دې ثوک د تور مور ته نه شرموي.

□□□□□□□□□□

❖ عراقۍ بوډۍ د امير.المؤمنين عمر بن عبدالعزيز رحمه الله کره ورغله، د هغه مېرمني د ورننوتلو اجازه ورکړه، بوډۍ کور کې يو بل خوا سترګې وغړولې، هيڅ ارزښتناک شی يې په کې ونه ليدا! د امير.المؤمنين کور سپيره او خراب غوندې و! نو ويې ويل: زه دې خراب کور ته د دې لپاره راغلم چې زما کور راته اباد کړي! (چې دا کور خپله خراب دی نو زما کور به څنګه راته اباد کړي!)، د عمر مېرمني فاطمة بنت عبدالملک ورته وويل: دا کور ستاسو په څير غريبانو کورونو جوړولو له امله خراب شوی دی. سيرة عمر بن عبد العزيز لابن عبد الحكم

□□□□□□□□□□□□

❖ "د القرويين پوهنتون" چې د المغرب په فأس ښار کې موقعيت لري د نړۍ تر ټولو پخوانی پوهنتون ګڼل کيږي! او بله يې لا دا چې دا پوهنتون يوې مسلماني مېرمني

"فاطمة بنت محمد الفهري القرشـي" په کال (245هـ 859م)
کې تأسـيس کړی ده. او د ابن خلدون په څير عالمان يې
روزلي دي.

□□□□□□□□□□□□□

❖ ازادي د انسان حق دی په جهان کې

مګر ځينې انسانان تړلي ښه دي

دا په لار کې د درويش چې اغزي کم شول

نو وتلی شايد دی د يار له زړه وي

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ درنې مېرمنې!

مېږه لکه "وايفای" خومره چې ورنږدې شـې؛ اړيکې به مو زياتې
او ځواکمني شـي، خو که ورنه لرې شـې؛ هغه د نورو وسـايلو
پلټنه پيلوي او ورنيسـي يې!

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ کومه ټولنه چې خپل ماشـومان د ناپوهه مېندو غېږو ته
سـپاری؛ له راتلونکي نسـل نه دې د ښـه او غوره خدمت
توقع نه کوي. علي الوردي

□□□□□□□□□□□□□

❖ د غله طلاقونه

يو عرب ليکي: موبايل مې ورک شـو، سـبا مازديګر چې له وظيفې
کور ته راغلم، څه ګورم چې اوښـې/اخشـيان مې په کور کې لګيا
دي، زما د مېرمنې بکسـونه او سـامانونه ورټولوي او موټر ته يې
پورته کوي! مال خير خو دی، دا څه کوئ زما مېرمن چرته ولئ؟!

هغوی سترګې پرې رابرګې کړې، ول پوښتنې هم لا کوې؟! مال څه چل دی وه د الله بنده ګانو؟!!

هغوی راته وویل: تا خپلي مېرمني ته درې طلاقه ورکړي دي او د هغې موبایل کې یې میسج راښکاره کړ! ما په قسمونو پیل ورته وکړ مال زما موبایل پرونی ورک شوی، دا میسج غله رالیږلی! د مېرمني موبایل مې راواخیست، غله ته مې میسج وکړ، مال ظالمه موبایل خو دې پټ کړ، خیر دی، نو زما ښځي ته دې د طلاق میسج ولې رالیږلی؟!!

لیږ وروسته غله میسج راولیږه، راته لیکلي یې و: له پرون راهیسې ستا مېرمني په میسجونو لیونی کړم، هاراوړه، داراوړه، هغه شی نسته او هابل شی ختم دی، چرته ورک یې او له چا سره یې ...! اتې مې په میسج کې درې طلاقونه ورولیږل، مال راڅه چې له دې مصیبته خو دې خلاص کړم.

□□□□□□□□□□□□□

❖ امام محمد بن مسلم الزهري رحمه الله نه پوښتنه وشوه چې ناروا "قوم پرستي" کومه ده؟ هغه ورته وویل چې د خپل قوم شریر او بد اخلاقه خلک د نورو له ښو خلکو غوره ګڼې! مصنف ابن ابي شیبة

□□□□□□□□□□□

❖ چاپلوسان دې نه رانږدې کیږي

د هارون الرشید استاد او وزیر یحیی بن خالدالبرمکي ته یوه سړي وویل: په الله قسم، کوم چې ته:

له احنف نه زیات حلیم یې

له معاویه نه زیات هوښیار یې

له عبدالملک نه په کره توب کې زيات يې

له عمر بن عبد العزيز نه زيات عادل يې!

يحيى ورته وويل:

د احنف غلام عُمير زما نه زيات حليم دى

د معاوية کاتب سرحون زما نه ډېر هوښيار دى

د عبدالملک د پوليسو مشر زما نه ډېر کره و

او د عمر بن عبدالعزيز پيره دار مزاحم زما نه ډېر عادل و!

واورئ! ماته هغه څوک هيڅکله نه شي رانږدې کيدلی چې هغه ماته زما له وړتيا زيات صفتونه راکوي! يعني #چاپلوسان دې نه رانږدې کيږي. البصائر لابي حيان التوحيدي

□□□□□□□□□□

❖ يوه سړي مرحوم ملا نصرالدين ته وويل: ستاسو له کوره مې ډېره تېزه چيغه واوريدله، خيرت خو به يي؟! ملا صاحب ورته وويل: هغه زه وم، زما کميس له بامه راولويد! سړي ورته وويل: نو څه چې راولويد؟! ملا صاحب ورته وويل: اى احمقه! که زه مې پخپل کميسه کې وى خو زه به هم لاندې رالويدلی وم!!

منه که پته لګيږي چې اوس سړى دا خبره څه شي سره وتړي!

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ رسول الله ﷺ فرمايي: نږدې ده چې تاسو به جنتيان او جهنميان سره وپيژنئ، هغوى وويل: هغه څنګه يا رسول الله؟ هغه وفرمايل: په ستاينه او غندنه. يعني خلک چې د

چا ستاینه کوي؛ هغوی جنتیان او چې د چا غندنه کوي؛ هغوی جهنمیان دي.

□□□□□□□□□□□□□

❖ الله ﷻ فرمايي: دوی (مېرمنو) سره ښه ژوند وکړئ.﴿وعاشروهن بالمعروف﴾، ابن کثیر رحمه الله لیکي: یعني خوږې خبرې ورته کوئ او ښه چلند ورسره کوئ او له خپل وس سره سم دوی سره ښې کړنې کوئ او لکه څنګه چې تاسو هغوی نه غواړئ چې ځانونه درته ښایسته کړي، تاسو هم هغوی ته ځانونه ښایسته کوئ. تفسیر القرآن العظیم لابن کثیر: 2/242

□□□□□□□□□□□

❖ زما ټوکې

چرته د کوم لوی مجلس سروانښی خلاص او مجلس دوګانه او سه ګانه شو، دوی کې دوه ملګري سره په مجلس دي، بې ادبي معاف چې د یوه غږیزه هوا ووتله! په دې سره یو ولاړ شو او د لمانځه لپاره یې څادر هوار کړ، خو هغه بل ورپورته شو، له لاسه یې ونیو، ول راځه کښېنه! لمونځ نه شې کولی! هغه په قهر شو، ول څنګه لمونځ نه شم کولی؟! ده ورته وویل: که لمونځ وکړې نو دا غږیزه هوا دې پر ما تاوان کړه ...

زه ځینې ټوکې د دې لپاره لیکم چې زما دیني، اخلاقي او ټولنیزو موضوعاتو ته د خلکو توجه راواړوم، مطلب زما له ټوکو دې ملګري زما په استازیتوب! زما موخې او اشارې نه راباسي...

□□□□□□□□□□

❖ ارواپوه کلیوال

ول اروا‌پوه ډاکټر ته ورغلم، مال ډاکټر صاحب دا ډېر وخت زه د شپې په کټ کې ډاریږم، زه ګومان کوم څوک به ورلاندې پروت يي! او له دې وهمه سم خوب نه شم کولی! هغه راته وویل ستا علاج یو کال وخت نیسی، اونۍ کې به دری ځله ماته راځې! د دې علاج د لګښت پوښتنه مې چې له ډاکټر صاحبه وکړه؛ بښخي زياتې پيسې یې راته يادې کړې.

مال زه مشوره کوم بیا راځم، خو چې ووتلم بیا ورنغلم، شپې ورځې ووتلې، ډېر وخت وروسته مې همدا اروا‌پوه ډاکټر صیب چرته ولید، راته کړه یې ولې د علاج لپاره رانغلې؟! مال ډاکټر صیب د هغه مشکل علاج یوه کلیوال ډېر اسانه او بې لګښته راوښود او سمدستې ختم شو، ډاکټر راته کړه نو هغه ډاکټر دی؟ مال نه، ډاکټر ول نو بیا؟! مال هغه ساده کلیوال دی، هغه راته وویل چې کټ له کوټې وباسه په ځمکه څمله! ډاکټر صاحب الحمد لله رک روغ شوم.

□□□□□□□□□

❖ رسول الله ﷺ فرمايي: زما او دنيا یې سره څه؟ زما او دنيا مثال داسې دی لکه سپور، چې د ونې لاندې سیوري ته کښېني او بیا ورنه ولاړ شي او پرېږدي. عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ : مالي وللدنيا، إنما مثلي ومثلُ الدُّنيا كراكبٍ استظلَّ تحت شجرةٍ ثم راحَ وتركها. أخرجه الترمذي (2377)، وابن ماجه (4109)، وأحمد (3709)، وابن حبان في المجروحين (276/1) واللفظ له.

□□□□□□□□□

❖ چې ځوک درته ووايي: خپه کيږې خو به نه، يوه خبر درته کوم، ورته وا لطفا مه يې راته کوه، خپه کېږم... ځکه هغه اراده کړې چې خپه دې کړي.

□□□□□□□□□□□□

## ❖ هوښيار ليونی

د ليونيانو د روغتون خواته يې موټر پنچر شو، په ټاير بدلولو لګيا شو، د ټاير نټونه يې خلاص او يوه طرف ته يې کېښودل، چې بل ټاير يې ورواچوه او نټونه يې راخيستل، هغه نه وو، چا غلا کړي وو! نو هک حيران کېناست چې اوس به څه چل کوي؟! د روغتون له کړکۍ يوه ليوني ورغږ کړ: څه چل دی ګرانه، ولې په چروت کې ناست يې؟ ده ورته وويل: د ټاير نټونه چا رانه پټ کړل!

ليوني ورته وويل: دا خو اسانه خبره ده، له نورو ټايرونو يو يو نټ درخلاص کړه او دغه ټاير پرې بسته کړه، د موټر خاوند ورته وويل: هو، په خدای! دا خو دې عجيبه ښه طريقه رازده کړه!! خو دا راته ووايه چې ته خو دومره ښه په خبره پوهيږې؛ نو ولې يې د ليونيانو روغتون ته اچولی يې؟! ليوني ورته وويل: وروره! زه ليونی يم، خو خر نه يم.

□□□□□□□□□□

❖ د ابو سعيد الخدري، عبد الله بن عباس، عبد الله بن عمر او انس رضي الله عنهم په څېر صحابه کرامو شاګرد، ضحاک بن مزاحم (مړ: 102هـ) رحمه الله د افغانستان د بلخ اوسيدونکی و، د هغه په مکتبونو کې د زرګونو هلکانو تر څنګ اووه سوه نجونو هم درسونه ويل! مفتاح السعاده، طاش کبری زاده : ۱/۴۰۴

امام الذهبي رحمه الله تعالی لیکي : د هغه مکتبونو کې دری زره هلکانو درسونه ویل، ده به په تدریس مزدوري نه اخیستله او په خره به سپور و په شاګردانو به ګرځیدی. سیر اعلام النبلاء: ۴/۵۹۹

□□□□□□□□□□

❖له نن پوره سل کاله پخوا (1922م)، یوه لیکوال پخپلو یادښتونو کې لیکلي: د دویم ځل لپاره چې پر جنتري د (22) شمېره راځي؛ یقینا نه به زه یم او نه تاسو، کاش ژوند دومره وفا لرلی چې یوځل بیا مو د 22 شمېره لیدلې وی!، هغه خلک مو لیدلی وی چې په 2022م کې ژوند کوي او هغه زمانه مو لیدلې وی، خو زه پوهیږم چې دا نه کیږي او دا کار ناشونی دی. هغه مهال به موږ نه یو او زموږ کیسه به ختمه يي.

اردو شاعر ساحر لدهیانوي چې د مرګ په ستر پروت و، په پټو سترګو او نیمژوانده غږ یې خپل ډاکټر ته وویل: "ډاکټر کپور! زه غواړم ژوند وکړم" ژوند به غمژلی یم؛ خو دنیا ښایسته او ژوند خوږ دی ... دلته د یارانو مجلسونه، دلته د ژوند شور و زوږ دی ... "زه غواړم ژوند وکړم، ډاکټر کپور"

کله چې سل کاله وروسته، په کال 2122م کې د 22 شمېره بیا راځي، نو موږ به نه یو، زموږ به ان قبرونه هم نړیدلي يي او موږ به ان د ټولو خپلوانو له ذهنونو هم وتلي او هېر شوي یو.

دنیا ښه او ښایسته ده، دنیا د اخرت د ګټې ځای ده، د مومن لپاره دنیا د غنیمتونو کور ده، اخرت که څه هم ډېر غوره او تلپاتې کور ده، خو دنیا هم ښه ده. وللآخرة خير لک من الأولی.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇

چې هره پردۍ ښځه خوږه خبره ورته وکړي؛ ان دا هم ورنه هېره شي چې دی اصلاً واده لري که نه؟!

□□□□□□□□□□□□

❖ د زمبابوې د ولسمشر نصيحت

د زمبابوې پخوانی ولسمشر رابرټ موګابې د هغه خلکو لپاره چې په معاش کار کوي ؛ ډېره له حکمته ډکه خبره کړې ده، هغه وايي : معاش خوره اشنا ! که په مناسب وخت دې معاش ترلاسه کړ ، نو چرګې به خورې، خو چې معاش په کميدا شي بيا به د چرګو توليدات (هګۍ) خورې، کله چې دې معاش ښه کم شي بيا به د چرګو خوراک خورې ، لکه د جوارو دانې، ږدن وغيره، کله چې معاش ختم شي بيا به چرګه درنه جوړه شي، په يوه ګوله ډوډۍ پسې به يو يل خوا منډې وهې.

نو معاش تخم وګڼه ، ځينې يې وکره ، چې له هغې لارې څه ګټه درته راځي ، ځکه يواځې معاش کفايت نه کوي او هيڅکله دې د ژوند ټول مشکلات نه شي حل کولی. نو دا نن کوم بل د ګټي کار وسنجوه، د ښه او ګټور کار له برکته به تل چرګې او پسونه خورې

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ د "النساء" (ښځې) لفظ جمعه ده، خو دا لفظ مفرد نه لري! او "المرأة" (ښځه)، دا لفظ مفرد دی خو جمعه نه لري!

يوه عالم له دې خبري وروسته ليکلي: په دوی ... د عربي غوندې پراخه ژبي هم وس نه رسيږي!!

□□□□□□□□

❖ هوښیار وایي: ژوند د پټ مخو مجلس دی ... ! زه دلته لوڅ مخ راغلی یم، ځکه شرمیږم...

□□□□□□□□

❖ هوښیار وایي: کله باید ګوتې هم سنګسار شي، ځکه هغوی داسې خلکو ته لیکني کړې یي، چې وړتیا یې نه لري.

□□□□□□□□□□□

❖ ځینې پر دین غیرت کوونکي، پخپله ناپوهي او غرور سره؛ دین ته، د دین له دښمنانو زیات تاوان رسوي! "هكذا علمتني الحياة" لمصطفى السباعي، رحمه الله، 81.

□□□□□□□□□

❖ مشهور صحابي جرير بن عبد الله رضي الله عنه ډېره ښایسته ځواني لرله، عمر بن الخطاب رضي الله عنه هغه د دې امت یوسف نومولی و! ده ته یو وخت رسول الله ﷺ وفرمایل : تا ته الله ښه ځواني درکړې ده، خلقي جوړښت دې ښکولی دی، نو اخلاق دې هم ښایسته کړه. رواه الخرائطي في مكارم الأخلاق

□□□□□□□□□

❖ ایا عربي د جنت ژبه ده؟

معلومه نه ده چې جنتیان به په کومه ژبه ګړیږي، ځکه الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې اړه څه نه دي فرمایلي او دا ثابته نه ده چې عربي د جنت ژبه ده او نه په دې اړه د صحابه کرامو کوم خلاف موږ ته معلوم دی، بلکې د دې بې ګټې خبري په اړه هغوی چوپ دي، څوک چې عربي د جنت ژبه

بولي؛ هغوی هیڅ عقلي او نقلي دلیل نه لري. مجموع الفتاوی لابن تيمية: 2/148

□□□□□□□□□□□

❖علم عمل او اخلاق دي

د وخت وتلی فقيه امام ابن ابي ذئب رحمه الله جومات ته ننوت، نو د جومات دوه رکعته (تحية المسجد) يې ونه کړل، يو ناپېژاند سړی ورته غوسه شو چې دوه رکعته لمونځ ولې نه کوې! او سختې خبرې يې ورته وکړې! امام ابن ابي ذئب دستې پاڅيدی، دوه رکعته لمونځ يې وکړ او ارام کېناست! له لمانځه وروسته ډله شاګردان ورغلل او پر امام راتاو شول.

ناپېژاند سړي پوښتنه وکړه چې دا څوک دی؟ چا ورته وويل: دا فقيه ابن ابي ذئب دی، سړی ورولاړ شو او په عاجزانه لهجه يې ورته وويل چې ما ونه پېژندلې! ابن ابي ذئب ورته وويل: وه وروره! عذر ويلو ته هيڅ اړتيا نسته، د ښه کار امر دې راته وکړ او موږ دې خبره ومنله! التمهيد لابن عبد البر

ربه! موږ ته د ښو اخلاقو توفيق راکړه ...

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖له پنده ډکه کيسه

يو ځوان #کيسه_کا مازديګر ناوخته مې سړی وليد چې په سخت يخ کې رېږی ته ولاړ و، کېلې يې خرڅولې، هغه هم کمې ورسره پاتې وې، نيت مې وکړ ورشم او هغه پاتې کېلې ورنه واخلم، کور که څه هم مېوه وه، د دې لپاره مې ورنه اخيستلې چې د دې غريب کار وشي.

زه چې وروانیدلم یو بل ځوان مې ولید هغه هم د هغه لور ته روان و، نو زه لیږ ورو شوم، د دې لپاره چې هغه یې واخلي. دواړه ورته ودریدلو، هغه ځوان ته مې خپله کیسه وکړه، مال زه یې د دې لپاره اخلم چې د دې غریب کار وشي، هغه ځوان راته موسکی شو، ول زه یې هم د ده لپاره اخلم.

چې له سړي نه روان شوم، ځان سره مې چروت واهه چې دې سړي کې څه چل دی چې موږ دوه کسان الله تعالی د هغه مرستې ته ورولیږلو، خو بله ورځ مې هماغه د کېلو سړی ولید چې خواته یې د نظافت کارکوونکی لګیا و، ده پلاستیکي کڅوړه له کېلو ورته ډکه کړه او وریې کړه! دلته مې له ځانه سره وویل چې رښتیا هم الله تعالی نېکي کوونکو ته لارې خلاصوي.

د هیواد په دې یخ موسم کې به خومره غریبان د غریبۍ له تړکه کړیږي ... پر دوی رحم او شفقت عبادت ده، الله دې زموږ د غریبو خلکو مرستندوی شي.

□□□□□□□□□□□□□

❖ کوم امیر ته یو ادیب د څه کار لپاره ورغی ، امیر ورته وویل : معذرت مې ومنه ، سخت مصروف یم، ادیب ورته وویل چې کله فارغ او بېکاره شې ؛ بیا موږ اړتیا نه درته لرو، نو د کار عذر مه رامخته کوه، ته چې تر څو مصروف یې ؛ د خلکو امیدونه به درپورې تړلي یي. حدائق الأزاهر

□□□□□□□□□□□

❖ د رښتیا ګټه

ربعي بن خراش العبسي رحمه الله مشر تابعي و، عمر بن الخطاب، علي بن ابي طالب او نورو رضي الله عنهم نه یې حدیثونه روایت کړي، ویل کیږي ده هیڅکله دروغ نه ویل! د ده

دوه زامن حجاج بن يوسف ته مطلوب وو، د هغه پوليس به ورپسې ګرځيدل او نه يې شوى موندلى، يوه ورځ چا حجاج ته وويل: له پلاره يې پوښتنه وكړه، هغه دروغ نه وايي، حجاج يې پلار وروغوښت، ويې پوښتى چې زامن دې چرته دي؟ ده ورته وويل: هغوى نن كور ته راغلي، كور دي! حجاج ورته وويل: ورځه! ستا د رښتيا له بركته مو هغوى ښښلي دي! وفيات الأعيان لابن خلكان

پايله: په رښتيا كې نجات ده.

□□□□□□□□□□

❖ چې باور ولړزيږي ... له دروغو وروسته، رښتيا (1000) شاهدانو او دلايلو ته اړتيا لرى.

□□□□□□□□□□□

❖ عرب ليكي: كوچنى خوريى مې جومات ته راسره بوتلى، جومات ته د ننوتلو پر مهال مې ورته وويل: اول ښى پښه دننه كړه او بيا ووايه: "اللهم إفتح لي أبواب رحمتك" يعني اى الله! ستا د رحمت دروازې راته خلاصې كړه. دى ليكي چې راوتلم خورى زما نه مخكې راوتلى و، بهر مې ورته وويل: جومات نه د راوتلو په وخت دې څه وويل؟ هغه وويل: اسانه وه، ومې ويل: اللهم أغلق لي أبواب رحمتك. يعني اى الله! ستا د رحمت دروازې راته وتړه

□□□□□□□□□□

❖ عمر بن عبد العزيز رحمه الله ، غلطې او خطا خبرې نه خوښولې او نفرت يې ورنه كوه ، د خبرو خطايي په دې معنا چې يا خو په ژبني قواعدو او ګرامر نه وې برابرې، يا له حقه تېرى په كې شوى وي او يا سختي او تريخوالى په كې وي

، د ګرامري غلطيو له کبله هغه وليد بن عبد الملک بد اېسوه او له حجاج بن يوسف څخه يې نفرت کوه ، ځکه چې هغه به په خبرو کې له حقه تېرى کاوه او چې د چا په خبرو کې به سختي او تريخوالى و هغه يې کاتب نه مقرروه، څو پوهه شي. عمر ډېر حساس او باريک ذوق لاره ، د خبري غلطي او سموالى به يې ډېر ژر معلوموه، ځکه هغه په ادبي ، اجتماعي او سياسي چارو کې پوره بلد و . زما ناچاپ کتاب، د عمر بن عبد العزيز ژوند او کارنامې.

□□□□□□□□□□□

❖ د يوې ښځې څلور مېرونه مړه شوي پينځم يې وکړ، څه وخت وروسته پينځم هم سخت ناروغ شو، د مرګ شپېې يې وې، دا عاجزه ورته په ژړا شوه، ساندو کې ورته وويل: زه دې چا ته پرېښودم ... هغه د زګېرويو په بدرګه ورته کړه: شپږم بدمرغه ته.

□□□□□□□□□

❖ يوه خو له سلو ښه خبره، هغه دا چې خبرو کې هيڅکله بيړه مه کوه، داخبره په سرو زرو وليکئ.

❖ عمر بن عبد العزيز رحمه الله ته د عراق وفد ورغى چې يوه ځوان هلک يې مشري کوله، ځوان ډېر بيدار، چالاک، فصيح او خوله ور و، په ډېر مهارت يې د عمر صفتونه پيل کړل، محمد بن کعب القرظي رحمه الله ستر عالم او د عمر نږدې مشاور و، هغه چې عمر ته وکتل، هغه د ځوان په خبرو دومره خوشاله شو چې مخ يې ځلا کوله. نو القرظي ورته وويل: امير المؤمنين! الله دې وکړي د خلکو جهالت (چاپلوسې) درباندې غالبه نه شي، ته له دوى نه خپل ځان ښه پېژنې، دوى ته اړتيا نشته چې ستا په اړه درته لګيا

دي! ډېر خلک د خلکو ستاینو دوکه کړي دي، د خلکو مننې او شکریې د هلاکت لامل ګرځي، القرظي زیاته کړه: زه هیله کوم چې ته د دې خلکو له ډلې نه شې. نو عمر سر ښکته واچوه. العقد الفرید لابن عبد ربه الاندلسي

مسؤل کسان، د هغو ملګري او اړوند خلک له دا ډول معلوماتو ډېر څه زده کولی شي، زموږ تبصرو او زیاتونو ته اړتیا نه وینم،

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ ام المؤمنين عائشه دوخت ماهره طبيبه وه!

د عائشې رضي الله عنها خوریی او نږدې شاګرد عروة بن الزبیر رحمه الله هغې ته وایي: ستا پوهې او فقهي ته تعجب نه کوم، ځکه د رسول الله ﷺ مېرمن او د ابو بکر رضي الله عنه لور یې، دا راز په شعر او د عربو د ورځو علم، ته دې هم تعجب نه کوم، ځکه د ابو بکر لور یې او هغه تر ټولو ښه عالم و، تعجب دېته کوم چې په علم طب کې دومره پوهه تا له چا نه او له کومه ترلاسه کړې ده؟!

هغې عروة پر مټ وواهه او ورته کړه یې: عروه جانه! رسول الله ﷺ به د ژوند وروستیو شپو ورځو کې ډېر ناروغه کیدی، نو له مختلفو لوریو به د عربو پلاوي ورته راتلل، (چې خامخا به د وخت ډاکټران هم په کې وو)، هغوی به مختلف ډوله درمل ورته ښودل او ما به هغه درمل ورته جوړول، نو د طب په اړه مې له هغو خلکو معلومات ترلاسه کړي دي. رواه أحمد في مسنده (24425)

همدې عروة بن الزبیر رحمه الله به ویل: په علم طب کې مې له عائشې زیات عالم هیڅوک نه دی لیدلی. داراز امام ابو عمر ابن عبد البر رحمه الله وایي: عائشه پخپله زمانه کې په دریو علومو

کې ترټولو غوره او مثالي عالمه وه، چې هغه علم الفقه، علم الطب او علم الشعر وو. داراز پخپله عائشه رضي الله عنها وايي: د رسول الله ﷺ له ناروغيو مې طب زده کړ.سير أعلام النبلاء 456/3، الاستيعاب لابن عبد البر 1881/4

صيد الخاطر لابن الجوزي ١٤٠

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ هغه سپېڅلې روح

عمر بن عبد العزيز رحمه الله چې وفات کيدی، ورسره ناستو خلکو ته يې وويل: ټول بهر ووځئ، دلته دې هيڅوک نه پاتيږي، هغوی ووتل، خو دروازه کې ورته غوړ شول، هغوی واوريدل چې ده ويل: هغو مخونو ته هرکلی وايم، چې نه د انسانانو او نه د پېريانو مخونه دي، وروسته يې دا ايت تلاوت کړ ﴿تلك الدار الآخرة نجعلها للذين لا يريدون علواً في الأرض ولا فساداً والعاقبة للمتقين﴾ او روح يې والوتله ... الثبات عند الممات لأبن الجوزي( ١/١٥٠)

هوکې! هغه سپېڅلې روح والوتله، چې جنتونو ته تږې وه. الله تعالی دې د دې ستر انسان پر روح رحمتونو واوروي.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ کوچني ته دکاندار د څراغ تېل ورتلل، دی په خورماؤ لګيا و، خوړلې يې، بل سړي ورته وويل: دا خورما ولې بې اجازې خورې؟! دکاندار هغه ته وويل: مه يې ښوروه، د خپل څراغ تېل خوري...

□□□□□□□□□□

❖ رسول الله ﷺ فرمايي: ستاسو هر يو شپون دی او د خپل
رعيت په اړه به پوښتنه ورنه کيږي. (كلكم راعٍ، ومسؤول
عن رعيّته متفق عليه). علامة ابن حجر رحمه الله، ليکي:
که څوک هيڅوک هم ونه لري د خپلو غړو او حواسو شپون
او مسؤل دی، ځکه پر ده لازمه ده چې د الله او د هغه د
بندګانو حقوق ادا کړي. علامة بدر الدين العيني رحمه الله
وايي: که څوک امام او واکمن نه يي، نه اهل لري او نه بادار
او نه پلار؛ نو پر هغه لازمه ده چې د ملګرو او نورو نږدې
خلکو رعايت وکړي.

□□□□□□□□□□

❖ غاښ ماتوونکی څواب

يوه عالم ته يوه کس وويل: ږيره پرېښودل د فطرت خلاف ده،
ځکه ماشوم چې پيدا شي ږيره يې نه يي. عالم ورته وويل: که
داسې يي بيا خو غاښونه هم د فطرت خلاف دي، هغه هم
وباسه...

هلته ناست يوه سړي وويل: مولويصاحب دا ډول ځواب موږ غاښ
ماتوونکی ځواب بولو.

□□□□□□□□□□

❖ د خلکو د عيبونو پلټنه؛ موږ کې عادي غوندې کار ګرځيدلی!
خو په حقيقت کې دا خطرناک کار دی، تاسو د ستر امام
مالک رحمه الله دا لاندې #تجربه په دقت سره ولولئ: هغه
وايي : په دې ښار (مدينه منوره) کې مې داسې خلک
ليدلي چې هيڅ عيبونه يې نه لرل، خو د خلکو عيبونه
بيانول يې چې پيل کړل؛ دوی کې هم عيبونه پيدا شول. او

دلته مې داسې خلک ليدلي چې عيبونه يې لرل، خو چې د خلکو له عيبونو چوپ پاتې شول؛ نو د دوی عيبونه هم هېر کړل شول!الضوء اللامع للسخاوي 106/1

□□□□□□□□□□□□□

❖ژمی او غريبان

ژمی د غريبانو دښمن دی، ژمي کې ناوسه خلک د ګېډې له غمه سره د ځان او بچيو د تودولو غم هم اخيستي يي، زموږ په کليو او د ښارونو لارو کوڅو کې ډېر داسې انسانان شته، چې د يخ ظالمې څپې يې شپه او ورځ کړوي، که شتمن ورونه جنتونه ګټي؛ مرستو ته دې ورودانګي شي، تاسې دا لاندې #کيسه_ګۍ ولولئ چې ضميرونه مو وتخنوي.

د شام يو سړي مدينه منوره کې له چا نه د صفوان بن سليم رحمه الله پوښتنه وکړه، ول هغه مې په خوب وليد چې جنت ته تللی يي! او جنت ته د ټګ لامل يې دا وي چې يوه غريب انسان ته يې يو کميس وراغوستی يي! چا له صفوان نه د دې خبري پوښتنه وکړه، هغه ورته وويل: په سخته يخه شپه کې له جوماته راووتلم، لاره کې مې يو لغړ سړی وليد، نو خپل کميس مې وايست او هغه ته مې ورواغوست!

مأخذونه:

حلية الأولياء لابي نعيم الاصبهاني (161/3)

تاريخ دمشق لابن عساكر (130/24)

سير السلف لابي إسماعيل الأصبهاني(ص820)

□□□□□□□□□□□□

❖چرسي ته چا وويل: د عملياتو پر مهال ډاکټرانو ولې مخونه پټ کړي يي؟ هغه ول ځکه چې عمليات ناکام او ناروغ مړ سي؛ اتې به يې ځوک نه پېژني.

□□□□□□□□□□

❖د چرګ او ګيدړي نصيحتونه!

ګيدړه د چرګ خواته تېريدله، نو ورته کړه يې: ستا د پلار غږ مې نه هېريږي، ډېر خوږ غږ يې و، ستا غږ به هم خامخا هغه ته ورته يي، ته خپل غږ راواوروه ګرانه! چرګ ورته وويل: بلکل زما غږ هم زما د پلار په څېر ښه غږ دی، نو سترګې يې پټې کړې چې اذان وکړي، په همدې وخت کې ګيدړي پرې حمله کړه او پورته يې کړ.

د کلي سپيو چې ګيدړه وليدله نو ورپسې شول، چرګ ګيدړي ته وويل: که غواړې د سپيو له شره ځان خلاص کړې نو ورته ووايه چې دا ستاسو د کلي چرګ نه دی، ګيدړي چې د خبرو لپاره خوله خلاصه کړه چرګ ورنه ټوپ کړ او په منډه يې ځان خلاص کړ.

ګيدړي په تاسف سره وويل: هغه خوله دې ماته شي چې چوپتيا ورته په کار وي او دا ګړيږي. چرګ نوک ونيو، ول هغه سترګې دې هم ړندې شي چې د بيداري په وخت پټيږي.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖سړي ماښام له ځانه سره مېلمه بوتلی، دی چې له مېلمستونه کورته دننه شو، مېرمني يې له خولې لاس واخيست، بېخي ډکه پيمانه خوشکه يې ورته وکړه، د دې قهرژني خطابيې! پايله يې دا وه چې په دې ماښام دې مېلمه راوستی؛ ولاکه هغه شين چای هم درتيار کړم!

سړي غریب ورته وویل: دا مېلمه مې ډېر نږدې ملګری دی، ده غوښتل ستا له خور سره کوژده وکړي، نو زما نه یې د هغې په اړه پوښتنه وکړه، ما ورته وویل: راځه زما ژوند وګوره...

□□□□□□□□□□□□□□□

❖ شکمن او دوه زړی کېږه مه! دوه زړه توب د فرصتونو او چانسونو قاتل ده. فَإِذا عَزَمتَ فَتَوَكَّل عَلَى اللَّهِ ۚ.

□□□□□□□□

❖ وتلی فقيه الليث بن سعد (١٧٥هـ) رحمه الله ډېر زیات سخي و، یو وخت امام مالک رحمه الله په یوه لوښي کې خورما ورولیږلې، هغه هماغه لوښی بیرته له سرو زرو ډک ورولیږه! ویل کیږي خپلو ملګرو ته به یې فالوده تیاره کړه، نو شرط به یې ورته ولګوه چې که هر چا ډېره وخوړه؛ هغه ته به زیات دینارونه ورکوي! وفيات الأعيان لابن خلكان

زموږ یو شتمن ګاونډی و، کله به مو چې کوم لوښي کې څه شی ورولیږل، بیا به مو د تش لوښي لپاره دوه درې ځله هلکان ورلیږل، ایله به مو اخیر خپل لوښی ترلاسه کړ

□□□□□□□□□□□

❖ یوه کم عقل صوفیتوب پیل کړ، نو غیبت به یې هیڅکله نه کاوه، یوه ورځ چا ورته وویل: شیطان څنګه دی؟ ده ورته وویل: ولا خلک ډېر په کې غږیږي، خو له حقیقته به یې الله تعالی ښه خبر یي... أخبار الحمقى لابن الجوزي٢٠١

□□□□□□□□□□□

❖ د قاضي هوښیاري

یوې مېرمني په یوه موضوع کې له خپل مېړه نه قاضي ته شکایت وکړ، خو مېړه یې قاضي ته وویل: له دې مخکې مې هغې ته تنبیه او خبرداری ورکړی و، ښځې قاضي ته وویل چې زه کېنه یم، په غوږونو سم نه اورم، قاضي ورته وویل: ته ولاړه شه! د تالار په هغه پای کې کېنه، چې زه لیږ خلاص شم، بیا دې راغواړم.

ښځه چې هلته کېنستله، لیږ ځنډ وروسته قاضي ناڅاپه د هغې لور ته وکتل او ورته ویې ویل: آغلې مېرمنې! حجاب او پرده پوره مراعت کړه، هغې که څه هم پوره پرده کړې وه، خو بیا هم سمدستې سره ټوله او په #حجاب یې لاسونه ووهل! په دې سره قاضي وروغوښتله او ورته ویې ویل: آغلې! الحمد لله ستاسو غوږونو کې مشکل نسته، مېړه سره ګذاره کوه. سړي ته یې وویل: مېرمن دې له لاسه ونیسه او ښه د سړیتوب ژوند ورسره کوه.

پایله: له کیسې نه دا ځو خبرې معلومولی شو چې هغه د #قاضي صاحب هوښیاري، د مېرمني کمزوری چل او له حجاب سره طبیعي او پنځیزه مینه.

□□□□□□□□□□□□

❖ چې لکړه مې لاس کې یي، په خوله چې هر څه وایم هغه "حق" دی! افریقایي #متل

□□□□□□□□□

❖ کیسه_کا: چرته د یوه سړي لور پیدا شوه چې ښځي زیاته ښایسته او لکه سپوږمۍ داسې تکه سپینه وه، خو د ورور

يې زوی پيدا شو، هغه بيا ډېر سخت بد رنګ و، له رنګه تک تور او پوزه يې هم چيته پيته وه! همدا د لور پلار ورغی، وراره يې راواخيست، خپلې مېرمني ته يې وروړ او ورته ويې ويل چې تی ورکړه! هغې ورته وويل: ولې څه چل دی؟! ده ورته وويل چې دا زما و ستا ښايسته لور همدا اوس پرې حرامه شي.

□□□□□□□□□□□

❖ دوه کسان چې خپلو کې د الله ﷻ لپاره مينه سره لري، د دوی منځ کې په خپګان راوستلو شيطان دومره خوشاليږي څومره چې له جنته د ادم عليه السلام په ايستلو خوشاله شوی و! اعتلال القلوب للخرائطي

□□□□□□□□□□□

❖ له الحاده بېزاري

د مصر وتلی شاعر "امل دنقل" د الازهر د يوه مشهور عالم زوی و، نوموړی په لس کلنۍ کې يتيم شو او چې ځوان شو #الحاد يې غوره کړ (العياذ بالله)، ده د الله تعالی په دښمني کې د شيطان په ستاينه کې قصيدې ليکلې او د هغه صفتونه به يې کول! د ده ژورناليسته مېرمن عبلة الرويني د ده پر ژوند د (الجنوبي) په نوم کتاب ليکلی، نوموړې په دې کتاب کې د ده په اړه ليکي: امل دنقل چې د سرطان په مرض اخته شو، ما به غوږ ورته نيولی و چې د الله ذکر به يې کوه! کله مو چې روغتون کې د عملياتو خونې ته بيوی، په لاره يې د شهادت کلمة ويله! ما په ټوکه ورته وويل: اخير دې ايمان راوړ؟! ده په ډېره عاجزي راته وويل: هو، زه ايمان اعلانوم، زه ډاريږم چې د عملياتو له خوني به ژوندی راونه وځم.

❖ چې ګیډړي وعظ شرو کړ؛ چرګه دې ورکه بوله! پولنډې
#متل

□□□□□□□□□

❖ د عمر رضي الله عنه غلام اسلم العدوي وايي: د وچکالۍ زمانه کې به موږ ګومان کوو چې عمر به د مسلمانانو له غمه ومري! طبقات ابن سعد

□□□□□□□□□□

❖ یو ځوان لیکي: نیکه مو د ډېر عمر دی، ډېر وخت یې په سترګو نه لیدل، پلار مو په ډېر زیات لګښت د هغه د سترګو علاج وکړ، کله چې له روغتونه کور ته راغی او موږ (لمسیان) یې ولیدلو نو راته کړه یې: که پوهیدلی چې داړول مخونه مو دي؛ هغه پیسې مې درته سپمولې...

□□□□□□□□□

❖ ډاکټر ناروغ ته وویل: خو شپې وروسته به خپلې کورنۍ ته ولاړ شې، له خیره، ناروغ ورته وویل: زما د کورنۍ غړي خو ټول وفات سوي دي؟!! ډاکټر ورته کړه: هو، پوهیږم...

□□□□□□□□□

❖ غیبت کوونکو ته

عائشة رضي الله عنها وايي: رسول الله ﷺ ته مې وویل: صفیة څه کوې، هغه دومره (ډېره ټیټه) ده، هغه راته وفرمایل: داسې خبره دې وکړه، که د بحر اوبو کې ګډه شي؛ ټولې اوبه به بدلې او فاسدې کړي! ابو داود

امام النووي رحمه الله وايي: غيبت نه د منعه کولو لپاره دا حديث تر ټولو سخت دی، ما بل داسې حديث نه دی ليدلی چې غيبت دومره په کې غندل شوی يي.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ ښه، نه هېرول

هشام ابوالبختري د قريشو له مشرانو و، د بدر غزا کې له مشرکانو سره ملګری و، رسول الله ﷺ د بدر غزا کې خپلو ملګرو ته وفرمايل: څوک چې ابوالبختري ووينې نه دې وژني! ابن اسحاق وايي: رسول الله ﷺ، ځکه دا امر وکړ چې ابوالبختري به رسول الله ﷺ په مکه کې له مشرکانو ساته. البداية والنهاية لابن کثير

◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ مور د سود په حرمت کې بابونه خبرې کوو، خو د خور و لور #حق خوړلو باره کې خاموش غوندې يو! او دواړه پرَدی حق خوړل دي! فکر کوم وجه دا ده چې مور 99:00% سلنه دا وروستي حرام خورو، که داسې نه ده؟

□□□□□□□□□

❖ د عمر په خبر سړي!

لېږي قافله راښکاره شوه، چې د مدينې منورې لور ته راروانه وه، عثمان بن عفان رضي الله عنه وليدله، څنګ ته يې ابوذر رضي الله عنه ناست و، هغه ته يې کړه: دا قافله چې څه شی راوړي ښه به يي؟ ابوذر ورته وويل: د عمر په څېر سړي! رضي الله عنه. البيان والتبيين للجاحظ

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ عائشه رضي الله عنها وايي: تاسو له تر ټولو غوره عبادته غافل يئ! چې هغه "تواضع" او عاجزي ده.

الزهد لابن المبارك

التواضع لابن أبي الدنيا

السنن الكبرى للنسائي

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ د ستالین چرګه !

يو ځل روسي واکمن ستالين د خپلو ملګرو منځ کې ناست و، يوه ملګري ته يې وويل ورشه يوه چرګه راوړه! ده غوښتل د دې چرګې په ذريعه خپلو ملګرو او پلويانو ته يو د عبرت درس وړاندې کړي، ستالين چرګه يوه لاس کې کلکه ونيوله، په بل لاس يې د هغې بڼکې ايستل پيل کړل! چرګې پښې او وزرې ډېرې وترپولې خو ګټه يې ونه کړه، اخير يې د چرګې ټولې بڼکې ورنه وايستلې!

ستالين خپلو ملګرو ته وويل: تاسو اوس ننداره کوئ، چې څه پېښېږي؟! لپه لغړه او سرې غوښې چرګه يې پر ځمکه کېښودله او ورنه ازاد شو، لاس کې يې اوربشې وې، هغه يې څو دانې ورته وغورځولې او ورنه روان شو، چرګې هغه په منډه وخوړلې او په ستالين پسې روانه شوه، هغه به چې بيا لېږ اوربشې ورته واچولې؛ چرګې به په بېړه وخوړلې، ستالين به چې روان شو هغې به ورپسې منډه کړه او په پښو پورې به يې ونښتله، هغه مظلومه او سرې غوښې چرګه د ناچيز رزق لپاره د خپل ظالم رحم! ته پاتې وه او هغه پسې منډې وهلې!!

دا وخت ستړالين په ارام سره خپلو هېښ پاتې ملګرو ته مخامخ شو او ورو غوندې يې وويل: تاسو بايد خلکو سره دا ډول چلند وکړئ ، دا چرګه مې ستاسو مخکې څومره وکړوله او ودردوله، خو بيا هم د څو دانو روزي لپاره منډې راپسې وهي.

پايله: ځينې خلک کټمټ لکه د ستړالين چرګه، هغه چا پسې هم منډې وهي چې هغه يې د خولې روزي ورنه تروړلې او تښتولې يي...

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ د پيغمبر ﷺ او ملګرو مجلسونه

زيد بن ثابت رضي الله عنه فرمايي: موږ به چې رسول الله ﷺ سره کېنستلو، که د اخرت په اړه به مو خبرې کولې د به هم همدا خبرې راسره کولې، که د دنيا په اړه به مو خبرې کولې د به هم همدا خبرې راسره کولې، که د خوراک او څښاک باره کې به مو خبرې کولې د به هم همدا خبرې راسره کولې، زيد زياتوي: دا ټولې د رسول الله ﷺ خبرې درته بيانوم.

اخرجه ابو الشيخ في أخلاق النبي ﷺ ، والامام الترمذي في الشمائل. والأصبهاني في أخلاق النبي وادابه. رحمهم الله تعالى

ځينې هغه مشايخ عظام، علماء کرام او حضرات صوفيان دې متوجه شي، چې خپلو مجلسونو کې خلکو ته د دنيا او دنيوي شيانو د ياد اجازه نه ورکوي او په دې نظر وي چې د دوی مجلسونو که به يواځې د اخرت خبرې کيږي.

◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇◇

❖ په رښتيا مين، تقوادار او پريکنده دريځ لرونکي مشر ته #چاپلوسان نه ورنږدې کيږي!

□□□□□□□□□□□□

❖ د هندوانو پالیزه ښنډه کې یو سړی ډنډه په لاس ولاړ و، ما وپوښتی مال دا ښنګه خلک دي؟ هغه ول دا ډېر ايمانداره خلک دي، امکان نه لري چې زما هندوانو ته کاږه راوګوري، ما ورته وويل: وه وروره! نو بيا دې دا دومره ډنډه ولې لاس کې نيولې او ولاړ يې؟! ول د دې لپاره چې دا خلک ايماندار واوسي...

**پای...**

***په فیسبوک یي په لاندي ادرس موندلی شئ□□□***

**Hamid Afghan**

**اجمل هیوادمل**